# آل عمران

**مدنی سورة دی ۲۰۰ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**الٓمٓ .(۱)**

**ا،ل،م( په حقیقی معنی یې الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږی)**

ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُ ۝٢

**الله چې له هغه نه غیر بل هیڅ خدای نشته، تل تر تله ژوندی، (د کائناتو او مخلوقاتو) ساتونکی( او د هغو د چارو) مدبر او سمبالوونکی ذات دی.**

نَزَّلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَأَنزَلَ ٱلتَّوۡرَىٰةَ
وَٱلۡإِنجِيلَ ۝٣

**(هماغه ذات) تاته دا کتاب په حقه نازل کړی چې د پخوانیو آسمانی کتابونو سره موافق او د هغو تصدیق کوونکی دی او پخوا یې( موسی ته) تورات او( عیسی ته) انجیل هم نازل کړی وو .**

مِن قَبۡلُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَأَنزَلَ ٱلۡفُرۡقَانَۗ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ لَهُمۡ
عَذَابٞ شَدِيدٞۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٞ ذُو ٱنتِقَامٍ ۝٤

**( له قرآن نه) وړاندی یې ( تورات او انجیل) د خلکو د هدایت لپاره نازل کړل( خو کله چې دوی بې لارې او منحرف شول) نو بیا یې الفرقان( قرآن کریم چې د حق او باطل تفکیک کوونکی دی) نازل کړ. څوک چې د الله تعالی د آیتونو له منلو انکار وکړی د سخت او شدید عذاب وړ دی او( باید پوه شی چې) الله تعالی برلاسی او انتقام اخستونکی ذات دی.**

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَخۡفَىٰ عَلَيۡهِ شَيۡءٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ۝٥

**( د مؤمنانو د ایمان او د کافرانو د کفر په شمول ) په ځمکه او آسمان کی هیڅ شی له الله تعالی نه پټ نشی پاتې کیدی.**

هُوَ ٱلَّذِي يُصَوِّرُكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ كَيۡفَ يَشَآءُۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ
ٱلۡحَكِيمُ (٦)

( الله تعالی) هماغه ذات دی چې د میندو په رحمونو کې ستاسو صورتونه، څنګه چې د هغه خوښه وی جوړوی. له هغه مقتدر او حکیم ذات نه غیر، بل معبود نشته.

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ مِنۡهُ ءَايَٰتٞ مُّحۡكَمَٰتٌ هُنَّ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ
وَأُخَرُ مُتَشَٰبِهَٰتٞۖ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمۡ زَيۡغٞ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَٰبَهَ مِنۡهُ
ٱبۡتِغَآءَ ٱلۡفِتۡنَةِ وَٱبۡتِغَآءَ تَأۡوِيلِهِۦۖ وَمَا يَعۡلَمُ تَأۡوِيلَهُۥٓ إِلَّا ٱللَّهُۗ وَٱلرَّٰسِخُونَ
فِي ٱلۡعِلۡمِ يَقُولُونَ ءَامَنَّا بِهِۦ كُلّٞ مِّنۡ عِندِ رَبِّنَاۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ
ٱلۡأَلۡبَٰبِ (٧)

( الله تعالی) هغه ذات دی چې تاته یی کتاب( قرآن ) نازل کړی چې دوه ډوله آیتونه لری، یو ډول یی محکمات دی( چې معنی او هدف یې مشخص او معلوم دی) او د کتاب بنسټ او اساس ګڼل کیږی او دوهم ډول یی متشابهات دی (چې معنی یې یوه، خو تفسیری احتمالات یې زیات دی، هغه کسان چې په زړونو کی یې کوږوالی دی د فتنې راولاړولو لپاره په متشابهاتو پسې زغلی او هغو ته د ډول ډول تأویلاتو د پیدا کیدو هڅه کوی، په داسې حال کی چې په حقیقی معنی یې الله تعالی او راسخ او ثابت قدم عالمان خبر دی.( دغه ربښتونی عالمان) وایی: مونږ په ټولو آیتونو ایمان راوړی (او د خپل علمی قوت په وسیله باورمن یو چې محکمات او متشابهات ټول) د الله تعالی له لوری نازل شوی او په دې حقیقت باندی یوازې پوهان او د سلیم عقل خاوندان ډیر ښه پوهیږی.

رَبَّنَا لَا تُزِغۡ قُلُوبَنَا بَعۡدَ إِذۡ هَدَيۡتَنَا وَهَبۡ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحۡمَةًۚ إِنَّكَ أَنتَ
ٱلۡوَهَّابُ (٨)

(د دغو راسخ العقیده پوهانو او عالمانو دعاء، تل داوی چې) ای زمونږ ربه! مونږ چې دې د هدایت او حقیقت په خوږ نعمت نازولی یو، نو اوس مو زړونه ( د حق له لارې) مه کږوه او مونږ ته د خپلو رحمتونو له زیرمې پراخه برخه راکړه بیشکه چې ته لوی بخشش ورکوونکی او لوروونکی ذات یې.

رَبَّنَآ إِنَّكَ جَامِعُ ٱلنَّاسِ لِيَوۡمٖ لَّا رَيۡبَ فِيهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُخۡلِفُ
ٱلۡمِيعَادَ ٩

**ای زمونږ ربه! د هغې ورځې په رارسیدو کې هیڅ شک نشته چې ته به ټول خلک راغونډوې( او هر چا ته به د هغه د عمل مکافات او مجازات ورکوې) بیشکه چې الله تعالی له خپلې وعدې اوښتونکی نه دی.**

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَن تُغۡنِيَ عَنۡهُمۡ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ
شَيۡـٔٗاۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ وَقُودُ ٱلنَّارِ ١٠

**( په دغه ورځ به) کافرانو ته خپل مال او اولاد، د الله تعالی( له عذاب) نه نجات ور نه کړی او هغوی به د دوزخ د اور خاشاک او د سون مواد وی.**

كَدَأۡبِ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ
بِذُنُوبِهِمۡۗ وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ١١

**د دغو کافرانو کړه وړه او بیا یې انجام او عاقبت د فرعونیانو او له هغو نه د مخکنیو نورو باغیانو په شان دی چې زمونږ آیتونه یې دروغ وګڼل او الله تعالی هم هغوی د ګناهونو له امله ونیول او سختې سزاګانې یې ورکړې او بیشکه چې الله تعالی د سختو سزاګانو ورکوونکی دی.**

قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ سَتُغۡلَبُونَ وَتُحۡشَرُونَ إِلَىٰ جَهَنَّمَۖ وَبِئۡسَ
ٱلۡمِهَادُ ١٢

**( نو ای پیغمبره) دغو کافرانو( یهودو او د مکې مشرکانو) ته ووایه زر ده چې په دنیا کې به ماتې وخورئ او وروسته به( په آخرت کې) راټول او دوزخ ته به وغورزول شئ چې تر ټولو بد هستوګنځی دی.**

قَدْ كَانَ لَكُمْ ءَايَةٌ فِى فِئَتَيْنِ ٱلْتَقَتَا ۖ فِئَةٌ تُقَٰتِلُ فِى سَبِيلِ
ٱللَّهِ وَأُخْرَىٰ كَافِرَةٌ يَرَوْنَهُم مِّثْلَيْهِمْ رَأْىَ ٱلْعَيْنِ ۚ وَٱللَّهُ يُؤَيِّدُ
بِنَصْرِهِۦ مَن يَشَآءُ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّأُو۟لِى ٱلْأَبْصَٰرِ ﴿١٣﴾

بیشکه په هغو دوو ډلو کی چې ( په بدر کی ) له یو بل سره د جګړې لپاره مخامخ شوې، ستاسو لپاره( د الله تعالی د قدرت او د پیغمبر د نبوت د حقانیت) څرګندې نښانې پرتې دی. یوه ډله ( د اهل ایمان وه چې) د الله تعالی په لارکې جنګیده او بله د کافرانو وه چې د مؤمنانو شمیر ورته په سترګو کی دوه چنده ښکاره شو( رعب او ویره یی په زړونو پریوته او د تیښتې او ماتی لار یې ونیوه). الله تعالی چې هر چا ته وغواړی پخپل نصرت او مرسته یې پیاوړی کوی. په دغه واقعیت کې د بصیرت د خاوندانو لپاره د عبرت ډیر ښه درس پروت دی.

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ ٱلشَّهَوَٰتِ مِنَ ٱلنِّسَآءِ وَٱلْبَنِينَ وَٱلْقَنَٰطِيرِ
ٱلْمُقَنطَرَةِ مِنَ ٱلذَّهَبِ وَٱلْفِضَّةِ وَٱلْخَيْلِ ٱلْمُسَوَّمَةِ
وَٱلْأَنْعَٰمِ وَٱلْحَرْثِ ۗ ذَٰلِكَ مَتَٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ
حُسْنُ ٱلْمَـَٔابِ ﴿١٤﴾

له شهواتو سره مینه،له ښځو،اولاد او د سرو او سپینو له خزانو سره مینه ، له اصیلو اسونو، څارویو او( زرخیزو) ځمکو او کروندو سره مینه د انسان په زړه کی ایښودل شوې، خو دا هرڅه د دنیا د فانی ژوندانه وسایل دی او( د حق د پلویانو لپاره) تر ټولو ښه انجام له الله تعالی سره دی( او الله تعالی ښه پوهیږی چې خپلو نیکو بندګانو ته کوم نعمتونه ورکوی).

۞ قُلْ أَؤُنَبِّئُكُم بِخَيْرٍ مِّن ذَٰلِكُمْ ۚ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّٰتٌ
تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَأَزْوَٰجٌ مُّطَهَّرَةٌ
وَرِضْوَٰنٌ مِّنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِٱلْعِبَادِ ﴿١٥﴾

ورته ووایه: راشئ داسې څه درته بیان کړم چې له دغو شیانو څخه( چې د خلکو په نظر کې ښه ورغلی) بهتر

او غوره دی، الله تعالی د پرهیزګارانو لپاره( په آخرت) کې داسې جنتونه ساتلی چې د ( ونو) لاندې یې( د الهی نعمتونو ویالې روانې دي او دوی به په دغو جنتونو کې د تل لپاره هستوګن وی، دغه راز د دوی لپاره پاکې میرمنې دي او تر ټولو مهمه دا چې د الله تعالی رضا به یې هم په برخه وی او الله تعالی خپل بندګان( او د هغوی باطنې ارادې او کړه وړه) ډیر ښه وینی.

ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ إِنَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿١٦﴾

دا هغه کسان دی چې( زړونه یې د ایمان په نور روښانه دی تل) وایی: ای زموږ ربه! موږ ایمان راوړی نو زموږ ګناهونه موږ ته معاف کړه او موږ د دوزخ له اوره په امن کې وساته.

ٱلصَّٰبِرِينَ وَٱلصَّٰدِقِينَ وَٱلۡقَٰنِتِينَ وَٱلۡمُنفِقِينَ وَٱلۡمُسۡتَغۡفِرِينَ بِٱلۡأَسۡحَارِ ﴿١٧﴾

( دوی د سختیو او تکلیفونو او د جهاد په ډګرونو کې) صبر کوونکی،(په نیت، وینا او عمل کې ) رښتونی او صادقین، ( په اطاعت او عبادت کې) فرمان منونکی( له خپل پاک حلال مال څخه) نفقه ورکوونکی او سپیده داغ مهال استغفار ویونکی دی.

شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَأُوْلُواْ ٱلۡعِلۡمِ قَآئِمَۢا بِٱلۡقِسۡطِۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿١٨﴾

الله تعالی( د خپلو تکوینی او تشریعی آیتونو او څرګندو او مسلمو حجتونو او دلایلو په وسیله) ګواهی ورکوی چې له هغه نه غیر بل کوم معبود نشته او پرښتې او هم د پوهې او بصیرت خاوندان او اهل علم په ریښینی او منصفانه توګه ګواهی ورکوی چې له هغه حکیم او پیاوړی ذات نه پرته بل خدای او د عبادت مرجع نشته.

إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُۗ وَمَا ٱخۡتَلَفَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۗ وَمَن يَكۡفُرۡ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ﴿١٩﴾

بې له شکه د الله پاک په حضور کی منل شوی او حق دین همدا اسلام دی چې د ټولو پیغمبرانو دین دی او اهل کتابو سره له دې چې د اسلام د حقانیت ټول دلایل او حجتونه ورته بیان شول، د خپل منځی اختلافاتو( او

ظلم او سرکشی، قدرت طلبی او انحصارطلبی په شیطانی جذباتو کې) ورسره دښمنی او مخالفت اعلان کړ.
(ځوک چې د الله پاک له آیتونو منکر او د کفر لاره غوره کړی) الله تعالی به ورسره بې له ځنډه حساب وکړی(
او جزا به ورکړی).

فَإِنْ حَآجُّوكَ فَقُلْ أَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلَّهِ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِ ۗ وَقُل لِّلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ وَٱلْأُمِّيِّـۧنَ ءَأَسْلَمْتُمْ ۚ فَإِنْ أَسْلَمُوا۟ فَقَدِ ٱهْتَدَوا۟ ۖ وَّإِن تَوَلَّوْا۟ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ ٱلْبَلَـٰغُ ۗ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِٱلْعِبَادِ ﴿٢٠﴾

( ای پیغمبره!) اوس که دوی ستا سره( د الله تعالی د وحدانیت په باب ) مشاجره او لجاجت کوی نو ورته ووایه: ما خپل مخ( ځان) الله تعالی ته تابع کړی ( دین او عبادت مې د الله تعالی لپاره مخلصانه دی ) او زما پیروانو هم خپل ځانونه الله تعالی ته تسلیم کړی (او په پاک نیت او اخلاص سره یې ایما ن راوړی ) نو ای اهل کتابو( یهودو او مسیحیانو) او ای امیانو( بې سوادو عربی مشرکینو) آیا تاسو هم د الله تعالی بندګی او اطاعت په ځان منلی ؟ که یې ورته غاړه ایښی وی، نو بیشکه چې د هدایت په لاره روان دی او که یې د بغاوت لوری نیولی وی، نو( اندیښنه مه کوه) ستا وظیفه او مسؤلیت یوازې د الهی حکم او پیغام رسول دی، نور، الله پاک د خپلو بندګانو ( د اعمالو او عقایدو) ډیر ښه لیدونکی او ځارونکی دی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِـَٔايَـٰتِ ٱللَّهِ وَيَقْتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَيَقْتُلُونَ ٱلَّذِينَ يَأْمُرُونَ بِٱلْقِسْطِ مِنَ ٱلنَّاسِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢١﴾

هغو کسانو ته د دردناک عذاب زیری ورکړه چې د الله تعالی له آیتونو څخه انکار کوی او پیغمبران په ناحقه وژنی او هغه کسان هم وژنی چې خلکو ته د عدالت او انصاف توصیه کوی( او حقې لارې ته یې رابلی).

أُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَبِطَتْ أَعْمَـٰلُهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّـٰصِرِينَ ﴿٢٢﴾

دا هغه کسان دی چې( حتی نیک اعمال یې هم ) په دنیا او آخرت کې تباه او باطل دی او( له عذابه د نجات لپاره به) هیڅ مرستندوی او ملاتړی و نه مومی.

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ يُدْعَوْنَ إِلَىٰ كِتَٰبِ ٱللَّهِ
لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ وَهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٢٣﴾

آیا( د یهودو هغو عالمانو او احبارو) ته نه ګورې چې د آسمانی کتاب( تورات) لږه یا ډیره برخه علم او پوهه ورکړی شوې او چې اوس ورته د الله تعالی د کتاب( قرآن) په رڼا کې د خپل منځی اختلافاتو د حل وفصل بلنه ورکړی کیږی نو یوه ډله یې په اعتراض سره مخ ګرځوی.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا۟ لَن تَمَسَّنَا ٱلنَّارُ إِلَّآ أَيَّامًا مَّعْدُودَٰتٍ ۖ وَغَرَّهُمْ فِى دِينِهِم
مَّا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴿٢٤﴾

(د مخ اړونی او اعراض) وجه یې داده چې په ( غرور) سره وایی: د اور سزا به مونږ ته له څو محدودو ورځو زیاته نه وی. دوی په همدغو دروغو او افتراآتو سره د خپل دین په باب د غرور او فریب په لومو کې ښکیل شوی دی.

فَكَيْفَ إِذَا جَمَعْنَٰهُمْ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيهِ وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا
كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٥﴾

نو څه حال به یې وی په هغه ربښتونی او مسلمه راتلونکې ورځ چې دوی به راټول او هر چا ته به د هغه د ښو او بدو اعمالو جزا او سزا ورکړی شی او له هیچا سره به بی انصافی ونشی.

قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلْمُلْكِ تُؤْتِى ٱلْمُلْكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلْمُلْكَ مِمَّن
تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُ ۖ بِيَدِكَ ٱلْخَيْرُ ۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ
قَدِيرٌ ﴿٢٦﴾

( ای پیغمبره د خپل رب د تعظیم او شکر د اداء کولو لپاره ) ووایه: ای الله، د پادشاهانو پادشاه! چا ته چې ته یې غوره کړې، حکومت او اقتدار ورکوې او له هر چا چې وغواړې حکومت او اقتدار ترې اخلې، چا ته چې دې اراده وشی عزت ورکوې او څوک چې وغواړې په خواری او ذلت یې اخته کوې. خیر ښیګڼه( د پیدایښت او تقدیر له مخې) ټول ستا په واک کی دی، بیشکه چې ته په هر کار پوره برلاسی یې.

تُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَتُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِۖ وَتُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ
ٱلۡمَيِّتِ وَتُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّۖ وَتَرۡزُقُ مَن تَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ ٢٧

ته يې چې د شپې يوه برخه په ورځ بدلوې(او شپه لنډه شي) او ته يې چې د ورځې يوه برخه په شپه بدله کړې( او ورځ لنډه شي)، ته يې چې ژوندى( انسان) له مړې( نطفې) پيدا کوې او بيا مړه( نطفه) له ژوندى( انسانه) پيدا کوې او چا ته چې دې اراده وشي بى حسابه روزى ورکوې.

لَّا يَتَّخِذِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ وَمَن يَفۡعَلۡ
ذَٰلِكَ فَلَيۡسَ مِنَ ٱللَّهِ فِي شَيۡءٍ إِلَّآ أَن تَتَّقُواْ مِنۡهُمۡ تُقَىٰةٗۗ
وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفۡسَهُۥۗ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلۡمَصِيرُ ٢٨

مؤمنانو ته نه ښايى چې د خپلو مؤمنانو( ورونو) په مقابل کې له کافرانو سره صميمانه دوستى پيل کړى او څوک چې دغه کار وکړى(او د مؤمنانو په ځاى کافران خپل مرستندويان او سرپرستان وټاکى،) د الله تعالى له( دين سره يې اړيکه) پرې ده( او له الهى رحمت نه بې برخى کيږى) خو که د تقيى په توګه( د کافرانو له شر او تکليف نه د ځان ژغورنې لپاره له هغوى سره ظاهرى دوستى وکړى نو ګناه وربانديې نشته) او الله تعالى له خپل( عذاب نه) تاسو ته اخطار درکوى چې بيرته د هغه لور ته ورګرځى( او د هر عمل حساب کتاب به درسره کيږى).

قُلۡ إِن تُخۡفُواْ مَا فِي صُدُورِكُمۡ أَوۡ تُبۡدُوهُ يَعۡلَمۡهُ ٱللَّهُۗ وَيَعۡلَمُ مَا فِي
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٢٩

اى پيغمبره (خلکو ته) ووايه که ستاسو په زړونو کى ( له کفارو سره صميمانه دوستى او هم فکرى وى او که نورې فاسدې ارادې او باطل افکار ولرئ) که يې پټ وساتى او که يې ښکاره کړى، په هر حال وربانديې الله تعالى خبر دى( او تاسو ته به پرې سزا درکوى)او دغه راز د آسمانونو او ځمکې په ټولو اشياو او موجوداتو بانديې د الله تعالى علم محيط دى او هغه په ټولو چارو د مکمل قدرت او تسلط څښتن دى.

يَوۡمَ تَجِدُ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا عَمِلَتۡ مِنۡ خَيۡرٖ مُّحۡضَرٗا وَمَا عَمِلَتۡ مِن
سُوٓءٖ تَوَدُّ لَوۡ أَنَّ بَيۡنَهَا وَبَيۡنَهُۥٓ أَمَدَۢا بَعِيدٗاۗ وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفۡسَهُۥۗ
وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلۡعِبَادِ ٣٠

( د الله تعالی له احکامو نه سرغړوونکی او باغیان ) دې ویرېږی له هغې ورځې، چې هر څوک پکې خپل نیک اعمال مخامخ ووینی (نو خوښ به شی) خو کله چې یې بیا خپلو ناوړو اعمالو ته پام شی نو لویه هیله او ارمان به یې دا وی چې کاش له دغو سره یې اوږده اوږده واټنونه پیدا شی ( او د هغو له بد انجام او عذاب سره مخامخ نشی.) الله تعالی تاسو له خپل عذاب نه ویروی او په خپلو بندګانو ډیر زیات مهربان ذات دی.

قُلۡ إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحۡبِبۡكُمُ ٱللَّهُ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۚ وَٱللَّهُ
غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٣١

(ای پیغمبره! زما د دوستۍ مدعیانو ته) ووایه که له الله پاک سره رښتونی او صاقانه مینه لرئ، نو راشئ( د الله د برحق پیغمبر په حیث) زما اطاعت وکړئ، الله به هم ستاسو سره مینه وکړی او هم به مو خطاوې دروبخښی او الله تعالی ډیر زیات بښونکی او د رحمت څښتن ذات دی.

قُلۡ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَۖ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٣٢

(او دا هم ورته) ووایه چې راشئ د الله او رسول اطاعت وکړئ، نو که یې مخ وګرځاوه ( او ستا بلنه یې و نه منله ، نو بیشکه چې کافران دی او باید پوه شی چې) الله پاک له کافرانو سره مینه او دوستی نه کوی.

۞ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصۡطَفَىٰٓ ءَادَمَ وَنُوحٗا وَءَالَ إِبۡرَٰهِيمَ وَءَالَ عِمۡرَٰنَ عَلَى
ٱلۡعَٰلَمِينَ ٣٣

بیشکه چې الله تعالی، آدم، نوح او د ابراهیم کورنۍ(لکه اسماعیل، اسحاق او یعقوب) او د عمران کورنۍ( لکه عیسی او مور یې مریم د خپل خپل عصر) په خلکو باندې غوره او برتر وګڼل.

ذُرِّيَّةَۢ بَعۡضُهَا مِنۢ بَعۡضٖۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ٣٤

(دغه ټول) ځینی د ځینو له نسله پیدا وو، او الله پاک د خپلو بندګانو د اقوالو ښه اوریدونکی او په افعالو یې ښه پوه اوعالم ذات دی.

إِذْ قَالَتِ ٱمْرَأَتُ عِمْرَٰنَ رَبِّ إِنِّى نَذَرْتُ لَكَ مَا فِى بَطْنِى مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ
مِنِّىٓ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٣٥﴾

( الله پاک) د عمران د ښځې( د مریم د مور دعا اوریده چې) ویل یې: ای زما ربه دا اولاد چې زما په ګیډه دی ستا لپاره یې ( له دنیوی خدمت نه) آزادوم او تا ته یې نذرانه کوم( چې وظیفه به یې صرف د مسجد اقصی خدمت وی) نو زما دا نذرانه پخپل حضور کې ومنه، ته اوریدونکی او پوه ذات یې( او زما ژړا او زاری اورې او په اخلاص او نیت مې ښه پوهیږې.)

فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ إِنِّى وَضَعْتُهَآ أُنثَىٰ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ
وَلَيْسَ ٱلذَّكَرُ كَٱلْأُنثَىٰ ۖ وَإِنِّى سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ وَإِنِّىٓ أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا
مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ﴿٣٦﴾

کله چې یې ماشومه وزیږوله( د افسوس او عذر په توګه یې) وویل یا ربه دا خو لور پیدا شوه او الله پاک د هغې په زیږیدو ښه پوهیده، او( بیا یې وویل) هلک خو د نجلۍ غوندې نه وی ( بلکه په هلک کې چې ما یې ارزو لرله د جومات د خدمت قوت او استعداد زیات وی) او زه هغې ته مریم ( د الله خدمتګاره)نوم غوره کوم او خپلې لور او د هغې راتلونکی نسل ته د رټل شوی شیطان له شر او وسوسو نه ستا پناه غواړم.

فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ حَسَنٍ وَأَنۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا ۖ
كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا ٱلْمِحْرَابَ وَجَدَ عِندَهَا رِزْقًا ۖ قَالَ يَٰمَرْيَمُ أَنَّىٰ
لَكِ هَٰذَا ۖ قَالَتْ هُوَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ يَرْزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيْرِ
حِسَابٍ ﴿٣٧﴾

نو الله پاک هغه په غوره توګه ومنله، په ښه توګه یې تربیه او پالنه ورکړه ( او د هغې د ترور خاوند) زکریا یې د هغې د سرپرستۍ او پالنې لپاره وټاکه. هر ځل به چې زکریا د هغې د عبادت کوټې ته ورننوت، لیدل به یې چې ډول ډول خاص خوراکونه( په تیره بیا د ژمی میوه په دوبی او د دوبی میوه په ژمی کی) د مریم مخې ته پراته دی. یو ځل یې ترې وپوښتل چې دا خوراکونه له کومه درته راځی؟ هغې په ځواب کې وویل: دا هر څه د الله له لوری دی او الله پاک هر چاته چې وغواړی پراخه او بې حسابه روزی ورکوی.

هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُۥ ۖ قَالَ رَبِّ هَبْ لِى مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ۖ

إِنَّكَ سَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ﴿٣٨﴾

همدا چې زکریا( د مریم په حق کی د الله تعالی دا خاص رحمت او محبت ولید، د اخلاص او تضرع نه په ډکو احساساتو سره یې خپل لرزیدلی لاسونه) د خپل رب دربار ته د دعا او مناجات لپاره اوچت کړل، ویل یې ای زما ربه! (ته چې مریم ته د جنتی میوو په استولو قادر یې نو) ما ته هم د خپلې مهربانۍ له مخې یو غوره او سپیڅلی اولاد را په نصیب کړه، بیشکه چې ته د دعا اوریدونکی او قبلوونکی یې.

فَنَادَتْهُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٌ يُصَلِّى فِى ٱلْمِحْرَابِ أَنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيَىٰ

مُصَدِّقًۢا بِكَلِمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَسَيِّدًا وَحَصُورًا وَنَبِيًّا مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٣٩﴾

( الله پاک یې دعا قبوله کړه) په داسې حال کې چې په خپله عبادت خونه کې په لمانځه ولاړ و، پرښتو ورباندې غږ کړ چې الله تعالی تا ته د یحیی د زیږیدو زیری درکوی، هغه به د الله تعالی د کلیمې( عیسی د راتګ او پیغمبرۍ زیری ورکوونکی او) تصدیق کوونکی وی،غوره بزرګوار او پرهیزګار شخصیت به وی، له شیطانی او شهوانی خواهشاتو نه به ځان ساتی او د صالحانو د سلسلې پیغمبر به وی.

قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِى غُلَٰمٌ وَقَدْ بَلَغَنِىَ ٱلْكِبَرُ وَٱمْرَأَتِى عَاقِرٌ ۖ

قَالَ كَذَٰلِكَ ٱللَّهُ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ﴿٤٠﴾

( د زیری په اوریدو، زکریا په حیرانۍ د دې خارق العاده کار د څرنګوالی پوښتنه وکړه) ای زما ربه! زه خو عمر خوړلی سپین ږیری یم او ښځه مې هم عقیمه ده نو څنګه به اولاد ولرم؟( پرښتې) وویل: همداسې ده، الله پاک چې هرڅه وغواړی سرته یی رسوی.

قَالَ رَبِّ ٱجْعَل لِّىٓ ءَايَةً ۖ قَالَ ءَايَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ ثَلَٰثَةَ أَيَّامٍ

إِلَّا رَمْزًا ۗ وَٱذْكُر رَّبَّكَ كَثِيرًا وَسَبِّحْ بِٱلْعَشِىِّ وَٱلْإِبْكَٰرِ ﴿٤١﴾

زکریا وویل: ای زما ربه! ماته یوه نښه وټاکه تر څو ستا د نعمت شکر په ځای کړم. الله تعالی وفرمایل: نښه به دا وی چې درې ورځې به خبرې نشې کولې او خلک به صرف په اشاره او رمز پوهوې. رب دې ډیر زیات یادوه او سهار ماښام یې تسبیح او ثنا وایه.

وَإِذْ قَالَتِ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرْيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰكِ وَطَهَّرَكِ وَٱصْطَفَىٰكِ
عَلَىٰ نِسَآءِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٢﴾

(او ای پیغمبره! ته هغه وخت نه وی کله چې پرښتې مریم ته راغلې او) وی ویل: ای مریم، الله تعالی ته غوره کړې يې،( هم يې له کفر او شرک نه پاکه ساتلی يې او هم يې د يهودانو له تورونوڅخه پاکه او بری الذمه کړې)او د نړۍ په ټولو ښځو يې درته ترجيح درکړه( هم يې د مسجد اقصی د خدمت لپاره ومنلې او هم درته بې له څښتنه ځوی درکوی).

يَٰمَرْيَمُ ٱقْنُتِى لِرَبِّكِ وَٱسْجُدِى وَٱرْكَعِى مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴿٤٣﴾

ای مریم!( د دغه نعمت په شکرانه کې) تل د خپل رب عبادت او مخلصانه اطاعت ته ځان وقف کړه او له لمونځ کوونکو سره ( د لمونځ کوونکو په شان ) د سجدو او رکوع (په رعايت سره) لمونځ کوه.

ذَٰلِكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ ۚ وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يُلْقُونَ
أَقْلَٰمَهُمْ أَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ
يَخْتَصِمُونَ ﴿٤٤﴾

( ای پیغمبره) دا ټول د غیب پټ خبرونه دی چې مونږ يې تا ته اوروو، کله ته هغه وخت نه وې چې دوی قلمونه( اوبو ته) غورزول( ترڅو معلومه کړی چې د چا قلم په اوبو کی ودریږی او د دغې قرعې په ګټلو به) څوک د مريم سرپرست وی؟ او ته هغه وخت نه وې چې دوی د مريم د سرپرستی لپاره په خپلمنځی جنجال او سيالی اخته وو( او هر يو غوښتل چې د هغې سرپرستی په خپله غاړه واخلی).

إِذْ قَالَتِ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرْيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ ٱسْمُهُ
ٱلْمَسِيحُ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ وَجِيهًا فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ وَمِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٥﴾

اوكله چې پرښتو وويل: ای مريم الله تعالی تا ته د خپل يو فرمان (زوی) زيری درکوی چې نوم به يی مسيح ابن مريم وی، په دنيا اوآخرت کی به د عزت او کرامت څښتن او الهی بارګاه ته به مقرب شخصيت وی.

وَيُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِى ٱلْمَهْدِ وَكَهْلًا وَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٤٦﴾

او (په معجزانه او خارق العاده توګه به) هم په ځانګو کې خبرې کوی او هم به په کره عمر کې( چې د قيامت د نښې په حيث له آسمان نه دنيا ته راشی) او له غوره او صالحو شخصيتونو څخه به شميرل کيږی.

قَالَتْ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي وَلَدٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ ۖ قَالَ كَذَٰلِكِ اللَّهُ يَخْلُقُ
مَا يَشَاءُ ۚ إِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿٤٧﴾

( مريم په داسې حال کی چې په غير طبيعی لاره د اولاد زيږيدو زيری ته حيرانه پاتې وه) وويل: ای زما ربه! زما ځوی به له کومه شی، چې هيڅ انسان ماته لاس قدری هم ندی راوړی؟ ( الله تعالی) وفرمايل: همداسې چې الله پاک د چا د پيدا کيدو اراده وکړی پيدا کوی يې او کله چې د يوه کار د کيدو فيصله وکړی، صرف دومره ورته وايی,وشه! او هغه بيا بی له ځنډه وشی.

وَيُعَلِّمُهُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرَاةَ وَالْإِنجِيلَ ﴿٤٨﴾

او هغه ته به خط کتابت او حکمت( رښتونی ګټور علم او په چارو کی حسن تدبير) او تورات او انجيل ورزده کړی.

وَرَسُولًا إِلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَنِّي قَدْ جِئْتُكُم بِآيَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ ۖ أَنِّي أَخْلُقُ
لَكُم مِّنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْرًا
بِإِذْنِ اللَّهِ ۖ وَأُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ وَأُحْيِي الْمَوْتَىٰ بِإِذْنِ اللَّهِ ۖ
وَأُنَبِّئُكُم بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمْ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً
لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٤٩﴾

او بنی اسرائيلو ته به يی د پيغمبر په حيث (له دې پيغام سره واستوی چې) زه ستاسو د رب له خوا له ښکندو معجزو سره تاسو ته راغلی يم. زه د خپل نبوت د اثبات لپاره ستاسو په مخکی له ختې نه د مرغۍ په شکل يوه مجسمه جوړوم او په هغې کی پوکی کوم، د الله په امر سره به تري الوتونکی مرغۍ جوړه شی، زه د الله په امر مورزادی ړوند او د برګی يا پيس ناروغ رغوم او مړی هم ژوندی کوم. دا به هم درته بيان کړم چې تاسو څه خوری او څه مو په کورونو کی ذخيره کړی دی.اوس که ايمان راوړی نو دغه (زما د رسالت د اثبات) پوره نښانې او معجزې دی.

وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ وَلِأُحِلَّ لَكُم بَعْضَ
ٱلَّذِي حُرِّمَ عَلَيْكُمْ ۚ وَجِئْتُكُم بِـَٔايَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ
وَأَطِيعُونِ ﴿٥٠﴾

او زه د هغو هدایاتو او احکامو تصدیق کوونکی او تائیدوونکی پیغمبر یم چې زما نه وړاندې په تورات کې موجود دی او د دې لپاره راغلی یم چې تاسو ته( د الله تعالی د احسان او مهربانۍ له مخې ) هغه شیان حلال اعلان کړم چې پخوا په تاسو حرام کړی شوی وو.ګورئ زه ستاسو د رب له لوری تاسو ته له( څرګند ې) نښې او معجزې سره راغلی یم نو اوس باید د الله پاک نه وویریږئ او زما اطاعت وکړئ.

إِنَّ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَٱعْبُدُوهُ ۗ هَـٰذَا صِرَٰطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٥١﴾

بیشکه چې الله تعالی هم زما رب دی اوهم ستاسو. نو یوازې د هغه عبادت وکړئ چې همدا مستقیمه د هدایت لاره ده( او ټول پیغمبران په همدې لاره روان دی).

۞ فَلَمَّآ أَحَسَّ عِيسَىٰ مِنْهُمُ ٱلْكُفْرَ قَالَ مَنْ أَنصَارِيٓ إِلَى ٱللَّهِ ۖ
قَالَ ٱلْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ ٱللَّهِ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَٱشْهَدْ بِأَنَّا
مُسْلِمُونَ ﴿٥٢﴾

خو کله چې عیسی پوه شو چې بنی اسرائیل د کفر او نافرمانۍ په لور روان دی، ویې ویل: څوک دی چې( د الله پاک د پیغام رسولو او د هغه لوری ته د خلکو د رابللو لپاره) زما ملګرتیا او اطاعت وکړی. حواریونو( چې د عیسی علیه السلام دولس تنه نږدې ملګری او شاګردان وو) وویل: مونږ د الله د دین ملاتړی یو، په الله ایمان لرو او ته( د قیامت په ورځ) ګواه اوسه چې مونږ مسلمانان یو( او د الله تعالی او ستا امر مو په سر سترګو منلی دی).

رَبَّنَآ ءَامَنَّا بِمَآ أَنزَلْتَ وَٱتَّبَعْنَا ٱلرَّسُولَ فَٱكْتُبْنَا مَعَ
ٱلشَّـٰهِدِينَ ﴿٥٣﴾

( حواریونو زیاته کړه:) یا ربه! هغه فرمان چې تا نازل کړی مونږ ومانه او ستا د رسول پیروی مو وکړه، نو زمونږ نوم په هغو کسانو کی ثبت کړه ( چه ستا په وحدانیت او حق پیغمبر) ګواهي ورکوی.

وَمَكَرُواْ وَمَكَرَ ٱللَّهُۖ وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلۡمَٰكِرِينَ ﴿٥٤﴾

او(د بنی اسرائيلو کافرې ډلې د عیسی علیه السلام په خلاف) پټ پلان او تدبیر جوړکړ او الله تعالی هم خپل تدبیر په کار واچاوه، بې له شکه چې الله پاک تر ټولو ښه تدبیر جوړوونکی دی.

إِذۡ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَىٰٓ إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ
ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَجَاعِلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوكَ فَوۡقَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ يَوۡمِ
ٱلۡقِيَٰمَةِۖ ثُمَّ إِلَيَّ مَرۡجِعُكُمۡ فَأَحۡكُمُ بَيۡنَكُمۡ فِيمَا كُنتُمۡ فِيهِ
تَخۡتَلِفُونَ ﴿٥٥﴾

الله تعالی( پخپل تدبیر کې) وفرمایل: ای عیسی زه تا (له ځمکې) را اخلم او خپل لوری( آسمان) ته دې راپورته کوم او د کافرانو( له ځنګ او ناولی چاپیریال) نه دې پاکوم( او نجات درکوم) او ستا پیروانو ته د قیامت تر ورځې( په کافرانو) برلاسی او ترجیح ورکوم. بیا تاسو زما حضور ته راګرځئ او زه به ستاسو ترمنځ د اختلافاتو په باب قضاوت او فیصله کوم.

فَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَأُعَذِّبُهُمۡ عَذَابٗا شَدِيدٗا فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَمَا
لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٥٦﴾

نو کومو کسانو چې د کفر لاره غوره کړې، په دنیا او آخرت کې به ورته سخته سزا ورکړم او هیڅوک به له دوی سره( د نجات لپاره) مرسته و نشی کولی.

وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُوَفِّيهِمۡ أُجُورَهُمۡۗ
وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٧﴾

خو هغه کسان چې ایمان یې راوړی او نیک عملونه کوی، پوره ثواب او اجر به ورکړی شی، او (ښه وپوهیږئ چې) الله پاک هیڅکله ظالمان نه خوښوی.

ذَٰلِكَ نَتۡلُوهُ عَلَيۡكَ مِنَ ٱلۡأٓيَٰتِ وَٱلذِّكۡرِ ٱلۡحَكِيمِ ﴿٥٨﴾

دا داستانونه په حقیقت کې الهی آیتونه او له حکمت او عبرت نه ډک درسونه دی چې مونږ یې تاته لولو.

إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ ٱللَّهِ كَمَثَلِ ءَادَمَۖ خَلَقَهُۥ مِن تُرَابٖ ثُمَّ قَالَ لَهُۥ
كُن فَيَكُونُ ﴿٥٩﴾

د الله په وړاندې، د عیسی د پیدایښت واقعیت د آدم د پیدایښت په شان دی. د هغه وجود یې له خاورې پیدا کړ بیا یې ورته وویل: (ژوندی موجود) شه، او هغه سمدلاسه( ژوندی موجود) شو.

ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُن مِّنَ ٱلۡمُمۡتَرِينَ ﴿٦٠﴾

( ای مخاطبه)دغه ټول حقایق دی ستا د رب له لورې، نو هیڅکله د شک کوونکو سره غاړه مه وړه.

فَمَنۡ حَآجَّكَ فِيهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلۡعِلۡمِ فَقُلۡ تَعَالَوۡاْ نَدۡعُ أَبۡنَآءَنَا
وَأَبۡنَآءَكُمۡ وَنِسَآءَنَا وَنِسَآءَكُمۡ وَأَنفُسَنَا وَأَنفُسَكُمۡ ثُمَّ نَبۡتَهِلۡ
فَنَجۡعَل لَّعۡنَتَ ٱللَّهِ عَلَى ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٦١﴾

( ای پیغمبره!) اوس که بیاهم دوی ستا سره د عیسی په باب کج بحثی او مجادله کوی( او ټینګار یې دا وی چې العیاذ بالله هغه خدای یا د خدای ځوی دی، نو د هغو معلوماتو په اساس چې په وړاندنیو آیتونو کی تاته درکړی شوی ورته) ووایه: را میدان ته شی مونږ او تاسو به، سره له خپلو زامنو، لونو او ښځو راټول شو( او د الله دربار ته به په تضرع او عاجزۍ سره د مباهلې لاسونه اوچت کړو او دعا به وکړو څوک چې دروغ وایی ( الله دی یې تباه کړی) او د الله تعالی لعنت دې وی په دروغجنانو.

إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلۡقَصَصُ ٱلۡحَقُّۚ وَمَا مِنۡ إِلَٰهٍ إِلَّا ٱللَّهُۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ
ٱلۡحَكِيمُ ﴿٦٢﴾

بیشکه چې( د عیسی علیه السلام په باب) د حق او حقیقت بیان همدا دی( چې تاته واورول شو) او له الله تعالی نه غیر بل معبود نشته( او د مسیحیانو مبالغه کاملا دروغ ده) او الله تعالی برلاسی او د حکمت څښتن دی.

فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٦٣﴾

نو (که له دغو روښانه دلایلو نه وروسته بیاهم د حق له منلو) مخ ګرځوی،( پوه شه چې هدف یې په ځمکه کی فساد خپرول دی او( الله تعالی د مفسدینو په حال ډېر ښه خبر دی.

قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ تَعَالَوْا۟ إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَآءٍۭ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا
نَعْبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِۦ شَيْـًٔا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا
مِّن دُونِ ٱللَّهِ ۚ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَقُولُوا۟ ٱشْهَدُوا۟ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ﴿٦٤﴾

ووایه ای اهل کتابو! راځئ په داسې یوه خبره سره( اقرار او عمل) وکړو چې زمونږ او ستاسو ترمنځ یوه ده( او ټول آسمانی شرایع هم ورباندې متفق دی) او هغه دا چې مونږ د الله تعالی نه غیر د بل چا بندګی نه کوو، نه له الله تعالی سره کوم شی په خدایئ کې شریکوو او نه یې په مقابل کې، کوم انسان ته په ربوبیت قایل یو ( یعنی نه به مسیح ته رب وایی او نه عزیر ته.) که هغوی ستا له دغې بلنې نه مخ واړوی نو په ډاګه ورته اعلان وکړه( تاسو چې هر څه کوئ ستاسو خوښه) خو شاهدان اوسئ چې مونږ مسلمانان یو( او یوازې د الله پاک بندګی کوو او بس).

يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لِمَ تُحَآجُّونَ فِىٓ إِبْرَٰهِيمَ وَمَآ أُنزِلَتِ ٱلتَّوْرَىٰةُ
وَٱلْإِنجِيلُ إِلَّا مِنۢ بَعْدِهِۦٓ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٦٥﴾

ای اهل کتابو( یهودو او مسیحیانو) ولې د ابراهیم (د دین) په باب جګړه او مجادله کوئ،آیا نه پوهیږئ چې تورات او انجیل د ابراهیم نه وروسته نازل شوی دی؟

هَٰٓأَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ حَٰجَجْتُمْ فِيمَا لَكُم بِهِۦ عِلْمٌ فَلِمَ تُحَآجُّونَ فِيمَا
لَيْسَ لَكُم بِهِۦ عِلْمٌ ۚ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦٦﴾

هو-( ای یهودیانو او مسیحیانو) تاسو چې د کومو شیانو په باب علم لرئ بحثونه او جنجالونه هم ورباندې کولی شئ، خو ولې د هغه څه( ابراهیمی دین) په باب په مجادله او مناظره سره اخته یاست چې تاسو ته پرې علم نشته. الله پاک( د ابراهیم د دین په باب) ښه پوهیږی او تاسو نه پوهیږئ.

مَا كَانَ إِبْرَٰهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَلَٰكِن كَانَ حَنِيفًا مُّسْلِمًا وَمَا كَانَ
مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٦٧﴾

ابراهیم (علیه السلام) نه یهودی و او نه نصرانی، بلکه (له باطلو ادیانو بیزاره) پاک او مخلص مسلمان و او هیڅکله مشرک نه و.

إِنَّ أَوْلَى ٱلنَّاسِ بِإِبْرَٰهِيمَ لَلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ وَهَٰذَا ٱلنَّبِىُّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ۗ
وَٱللَّهُ وَلِىُّ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٦٨﴾

**تر ټولو حقدار او مستحق کسان چې ابراهیم( او د هغه دین) ته منسوب دی(پخپله د ابراهیم د عصر) مسلمانان دی چې( د هغه دعوت ته یې لبیک ویلی او) پیروی یې ترې کړې او بیا دا معاصر پیغمبر (محمد صلی الله علیه وسلم) او اوسنی مؤمنان دی( چې د ابراهیم د خالص توحید په دین ولاړ دی) او الله تعالی د مؤمنانو دوست او مرستندوی دی.**

وَدَّت طَّآئِفَةٌ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ لَوْ يُضِلُّونَكُمْ وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّآ
أَنفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿٦٩﴾

**(ای مؤمنانو!) د اهل کتابو یوه ډله تل په دې هیله او هڅه کی ده چې تاسو ته( ستاسو د دین په باب شکونه درورواندی کړی) او له اسلام نه مو بې لارې کړی( خو په دغه کار سره) یوازې خپل ځانونه ګمراه کوی او نه پوهیږی (چې مؤمنان په خپل ایمان ټینګ ولاړ دی).**

يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لِمَ تَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَأَنتُمْ تَشْهَدُونَ ﴿٧٠﴾

**ای اهل کتابو ولې له هغو آیتونو منکریږی چې (د محمد علیه السلام د نبوت د اثبات او د هغه د اوصافو او مشخصاتو په باب درلیږل کیږی) په داسې حال کی چې( د هغه د نبوت نښې او مشخصات، تاسو په خپلو کتابونو کی) هم وینئ او ګواهی پرې ورکوئ.**

يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لِمَ تَلْبِسُونَ ٱلْحَقَّ بِٱلْبَٰطِلِ وَتَكْتُمُونَ ٱلْحَقَّ وَأَنتُمْ
تَعْلَمُونَ ﴿٧١﴾

**ای اهل کتابو! ولې حق ته د باطل رنګ ورکوئ او سره ګډوئ یې( او له ځانه جوړ کړی تحریفات مو په دینی احکامو کې ورننه باسئ او خلک وربانددې بې لارې کوئ) او ولې حقیقت پټوئ، او ښه پوهیږئ چې (محمد د الله تعالی برحق رسول دی).**

وَقَالَت طَّآئِفَةٌ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ ءَامِنُوا۟ بِٱلَّذِىٓ أُنزِلَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟
وَجْهَ ٱلنَّهَارِ وَٱكْفُرُوٓا۟ ءَاخِرَهُۥ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٧٢﴾

او د اهل کتابو یوې ډلې( یهودی مشرانو او مخورو) خپلو عامو خلکو ته ویل هر سهار د مؤمنانو په کتاب( قرآن) ایمان راوړئ اوماز دیگر مهال ترې منکر او کافر شئ تر څو (مؤمنان د خپل دین او قرآن د حقانیت په باب د شک او تذبذب ښکار شی او له اسلام نه) راوګرځی.

وَلَا تُؤۡمِنُوٓاْ إِلَّا لِمَن تَبِعَ دِينَكُمۡ قُلۡ إِنَّ ٱلۡهُدَىٰ هُدَى ٱللَّهِ أَن يُؤۡتَىٰٓ أَحَدٞ مِّثۡلَ مَآ أُوتِيتُمۡ أَوۡ يُحَآجُّوكُمۡ عِندَ رَبِّكُمۡۗ قُلۡ إِنَّ ٱلۡفَضۡلَ بِيَدِ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٞ ٧٣

( او یهودی مشرانو خپلو پیروانو ته دا توصیه هم وکړه چې) د دین په چارو کې له خپلو خلکو(یهودی مشرانو او احبارو) نه غیر، په بل چا اعتبار مه کوی.(ای پیغمبره ورته) ووایه چې حقیقی هدایت هماغه د الله تعالی هدایت دی.( یهودی مشران خپلو عامو خلکو ته دا هم وایی:) هسې نه چې هغه( آسمانی کتابونه او نور افتخارات) چې ستاسو په نصیب شوی، اوس ستاسو په ځای نورو ته ورکړی شي او یا مسلمانانو ته د الله په حضور کې ستاسو په خلاف قوی دلایل او حجتونه په لاس ورشی. (ای پیغمبره) ورته ووایه فضل او عزت( اسلام او نبوت) د الله پاک په واک کی دی چا ته چې یې اراده وشی ورکوی یې. الله تعالی( د فضل او نعمت) پراخوونکی او( د خپلې وحی او رسالت د اهلیت او استعداد د مستحق) ډیر ښه پیژندونکی دی.

يَخۡتَصُّ بِرَحۡمَتِهِۦ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ٧٤

هر چا ته چې اراده وکړی د خپل رحمت( نبوت) لپاره یې غوره کوی او الله تعالی د لوی او عام فضل او رحمت څښتن ذات دی.

۞ وَمِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ مَنۡ إِن تَأۡمَنۡهُ بِقِنطَارٖ يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيۡكَ وَمِنۡهُم مَّنۡ إِن تَأۡمَنۡهُ بِدِينَارٖ لَّا يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيۡكَ إِلَّا مَا دُمۡتَ عَلَيۡهِ قَآئِمٗاۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَالُواْ لَيۡسَ عَلَيۡنَا فِي ٱلۡأُمِّيِّـۧنَ سَبِيلٞ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ٧٥

او په اهل کتابو کی داسې کسان شته چې که پنډونه-پنډونه سرمایه ورسره په امانت کیږدې( روغه رمټه به یې) درته دروسپاری( او خیانت پکې نه کوی) او داسې کسان هم پکې شته چې که یو دینار ورسره امانت کیږدې بیرته یې نه درکوی مګر داچې په سر به یې ( لکه د سپاهی) ولاړ یې او( ترې به یې غواړې) دا ځکه چې دوی

وایی له مونږ نه د امییونو( غیر یهودو) د مال پوښتنه نه کیږی، دوی قصداً په الله تعالی باندې دروغ تړی او ښه پوهیږی چې( الله تعالی هیڅکله داسې کوم حکم نه دی صادر کړی).

بَلَىٰ مَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِۦ وَٱتَّقَىٰ فَإِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٧٦﴾

( نه داسې نه ده چې دوی یې انګیری بلکه په نا حقه د چا مال خوړل او په امانت کې خیانت لوی جرم دی.) هو- څوک چې له الله تعالی سره په خپل عهد او پیمان ټینګ ولاړ وی او پرهیزګار هم وی( د الله پاک رضا او مینه یې په برخه ده) ځکه الله پاک له پرهیزګارانو سره مینه لری.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ ٱللَّهِ وَأَيْمَٰنِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا أُو۟لَٰٓئِكَ لَا خَلَٰقَ لَهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ وَلَا يَنظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٧﴾

هغه کسان چې له الله تعالی سره خپلې کړې وعدې او سوګندونه( د خپلو شخصی او دنیوی) ناچیزه ګټو څخه قربانوی، په آخرت کی یې هیڅ برخه نشته، نه ورسره الله پاک خبرې کوی، نه ورته د مرحمت په نظر ګوری او نه یې( له ګناهونو) پاکوی بلکه دردناک او سخت عذاب هم ورکوی.

وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقًا يَلْوُۥنَ أَلْسِنَتَهُم بِٱلْكِتَٰبِ لِتَحْسَبُوهُ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٨﴾

او په (یهودو) کی داسې کسان شته چې د کتاب الله په لوستلو کې خپلې ژبې( او تلفظ) داسې کږوی راکږوی چې ته به وا همدا د کتاب الله عبارت دی، په داسې حال کې چې هغه په آسمانی کتاب کې نشته( او په بې شرمی سره وایی چې) دا د الله پاک له لوری دی حال دا چې هغه د الله له لوری نه دی. (بلکه) دوی له پوهې او ادراک سره سره خپل دروغ او تحریفات الله تعالی ته منسوبوی.

مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُؤْتِيَهُ ٱللَّهُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحُكْمَ وَٱلنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُوا۟ عِبَادًا لِّى مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِن كُونُوا۟ رَبَّٰنِيِّۦنَ بِمَا كُنتُمْ تُعَلِّمُونَ ٱلْكِتَٰبَ وَبِمَا كُنتُمْ تَدْرُسُونَ ﴿٧٩﴾

هیڅ انسان ته نه ښایی چې الله تعالی ورته کتاب، حکمت( شریعت او د فیصلی قوت) او نبوت ورکړی او هغه دې بیا خلکو ته ووایی چې د الله په ځای زما بندگی او عبادت وکړئ، بلکه ورته دې ووایی چې ( د الله تعالی) ښه عبادت کوونکی او په دین پوهیدونکی واوسئ، ځکه چې هم پخپله په کتاب پوهیږئ او هم یې خلکو ته تدریس کوئ( نو باید عقیده او عمل مو هم د کتاب الله مطابق وی).

وَلَا يَأۡمُرَكُمۡ أَن تَتَّخِذُواْ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ أَرۡبَابًاۗ أَيَأۡمُرُكُم بِٱلۡكُفۡرِ بَعۡدَ
إِذۡ أَنتُم مُّسۡلِمُونَ ﴿٨٠﴾

او (هیڅ پیغمبر) به دا امر هم درته و نه کړی چې پرښتې یا پیغمبران په خدایۍ ونیسئ. آیا دا امکان لری چې( یو پیغمبر) تاسو ته د کفر کولو امر وکړی په داسې حال کې چې تاسو(په مخلصانه توګه د الله پاک عبادت کوئ او) ټول مسلمانان یاست.

وَإِذۡ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ لَمَآ ءَاتَيۡتُكُم مِّن كِتَٰبٖ وَحِكۡمَةٖ
ثُمَّ جَآءَكُمۡ رَسُولٞ مُّصَدِّقٞ لِّمَا مَعَكُمۡ لَتُؤۡمِنُنَّ بِهِۦ وَلَتَنصُرُنَّهُۥۚ
قَالَ ءَأَقۡرَرۡتُمۡ وَأَخَذۡتُمۡ عَلَىٰ ذَٰلِكُمۡ إِصۡرِيۖ قَالُوٓاْ أَقۡرَرۡنَاۚ قَالَ
فَٱشۡهَدُواْ وَأَنَا۠ مَعَكُم مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٨١﴾

او کله چې الله تعالی له ټولو انبیاو( او د هغوی له پیروانو) څخه ټینګ تعهد واخست چې زه به تاسو ته کتاب او حکمت درکوم او وروسته به یو پیغمبر( محمد صلی الله علیه وسلم) راځی( نو وعده او تعهد وکړئ چې) تاسو به د هغه د دعوت او نبوت تصدیق کوئ، ایمان به ورباندې راوړئ او مرسته او ملاتړ به یې هم کوئ.(بیا الله تعالی)وفرمایل:آیا په دغه خبره اقرار( او تعهد) کوئ او زما فرمان منئ؟ ټولو وویل: هو اقرار کوو( او فرمان دې منو). الله تعالی وفرمایل: نو (ټول یو په بل) ګواهان اوسئ او زه به هم په تاسو ګواه یم.

فَمَن تَوَلَّىٰ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴿٨٢﴾

نو که څوک( د دې تينګ تعهد نه وروسته د اسلام په پيغمبر باندې له ايمان راوړلو نه) انکار وکړی بی له شکه به دغه ډله په فاسقانو کی وشميرل شی.

أَفَغَيْرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُۥٓ أَسْلَمَ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾

آيا د الله د دين( اسلام) نه غير بله لاره لټوی، حال دا چې د آسمانونو او ځمکې ټول مخلوقات که وغواړی يا و نه غواړی الله تعالی ته تسليم او اطاعت کوونکی دی او( له ژونده وروسته) ټول بيرته د هغه حضور ته ورګرځی.

قُلْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ عَلَيْنَا وَمَآ أُنزِلَ عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطِ وَمَآ أُوتِىَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ ﴿٨٤﴾

(ای پيغمبره) ووايه: مونږ ( ما او امت مې)ايمان راوړی په الله او هغو( احکامو او لارښوونو) چې مونږ ته نازل شوی او ايمان مو راوړی په هغو ( احکامو او لارښوونو) چې ابراهيم، اسماعيل، اسحاق، يعقوب او د هغه د اولادی په پيغمبرانو نازل شوی، او ايمان مو راوړی په هغو( احکامو او لارښوونو) چې په موسی، عيسی او نورو پيغمبرانو باندې د هغوی د رب له خوا نازل شوی او مونږ( په ايمان راوړلو کې) د هغوی تر منځ هيڅ فرق او توپير نه کوو، او په دې ډول مونږ د الله تعالی د فرمان تابع مسلمانان يو.

وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ ٱلْإِسْلَٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِى ٱلْءَاخِرَةِ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٨٥﴾

او څوک چې د اسلامی شريعت او قانون نه غير، بل دين غوره کړی هيڅکله به يې (نوی دين) و نه منل شی او په آخرت کی به د زيانمنانو په کتار کې ولاړ وی.

كَيۡفَ يَهۡدِي ٱللَّهُ قَوۡمٗا كَفَرُواْ بَعۡدَ إِيمَٰنِهِمۡ وَشَهِدُوٓاْ أَنَّ
ٱلرَّسُولَ حَقّٞ وَجَآءَهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُۚ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ
ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٨٦﴾

څنګه به الله تعالی هغو خلکو ته هدایت وکړی چې د ایمان په نعمت سرلوړی شوی، د اسلام د پیغمبر په حقانیت یې ګواهی ورکړې او روښانه دلایل او معجزې هم ورته راغلی خو وروسته یې د کفر لاره غوره کړې ده. الله پاک هیڅکله ظالمان په سمه لار نه روانوی.

أُوْلَٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمۡ أَنَّ عَلَيۡهِمۡ لَعۡنَةَ ٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلنَّاسِ
أَجۡمَعِينَ ﴿٨٧﴾

د دغو( مرتدو کسانو د ظلم) سزا داده چې (په دنیا او آخرت کی) د الله تعالی، ملائکو او ټولو انسانانو د لعنت او نفرین وړ دی.

خَٰلِدِينَ فِيهَا لَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابُ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ﴿٨٨﴾

تل به( د لعنت وړ او د دوزخ) هستوګن وی. نه به یې په سزا کی کمی راځی او نه به ورته( د عذاب په ورکولو کې څه) ځنډ او وقفه وی.

إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ وَأَصۡلَحُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ﴿٨٩﴾

خو هغه کسان چې وروسته( له ارتداد نه) توبه وباسی او خپل ځانونه اصلاح کړی( او د نیکو اعمالو په وسیله الله تعالی ته ځانونه نږدی کړی توبه یې قبلیدونکی ده) ځکه الله پاک ښښونکی او مهربان ذات دی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بَعۡدَ إِيمَٰنِهِمۡ ثُمَّ ٱزۡدَادُواْ كُفۡرٗا لَّن تُقۡبَلَ تَوۡبَتُهُمۡ
وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلضَّآلُّونَ ﴿٩٠﴾

بیشکه هغه کسان چې له ایمان راوړلو نه وروسته( بې له کوم جبر او مجبوریته) کفر غوره کوی( او بیا د اسلام او مسلمانانو په ضد د دسیسو په جوړولو سره) پخپل کفر کی زیاتی او افراط هم کوی( د مرګ په وخت کی یې) توبه نه قبلیږی او په ګمراهانو کې شمیرل کیږی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَمَاتُواْ وَهُمۡ كُفَّارٞ فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡ أَحَدِهِم مِّلۡءُ
ٱلۡأَرۡضِ ذَهَبٗا وَلَوِ ٱفۡتَدَىٰ بِهِۦٓۗ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ وَمَا لَهُم مِّن
نَّٰصِرِينَ ﴿٩١﴾

هغه کسان چې کافران دی( که اصلی کافران وی که مرتدان) او د کفر په حالت کی له دنیا نه لاړ شی، که هر یو د ځان د نجات لپاره، د سرو زرو له خزانو نه ډکه ځمکه په فدیه کی وړاندې کړی، له هیڅ یوه تن نه به هم و نه منل شی بلکه د دردناک عذاب سره به مخامخ وی او( د نجات لپاره به) هیڅ مرستندوی او ملاتړی هم و نه لری.

=================

لَن تَنَالُواْ ٱلۡبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُواْ مِمَّا تُحِبُّونَۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيۡءٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ
بِهِۦ عَلِيمٞ ﴿٩٢﴾

هیڅکله د کاملې نیکۍ هغې درجې ته( چې تاسې یې په لټه کې یاست او الله پاک پرې خوشحالیږی) رسیدی نشی تر څو هغه څه چې تاسو ته ډیر ګران او خواږه دی، د الله په لاره کی نفقه نه کړئ او هر څه چې تاسو یې نفقه کوئ( لږ وی که ډیر، ښه وی که بد، په ریا وی که په اخلاص) الله پاک وربانديې ښه خبر دی.

۞ كُلُّ ٱلطَّعَامِ كَانَ حِلّٗا لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ إِلَّا مَا حَرَّمَ إِسۡرَٰٓءِيلُ
عَلَىٰ نَفۡسِهِۦ مِن قَبۡلِ أَن تُنَزَّلَ ٱلتَّوۡرَىٰةُۚ قُلۡ فَأۡتُواْ بِٱلتَّوۡرَىٰةِ فَٱتۡلُوهَآ إِن
كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٩٣﴾

ټول خوراکی شیان( چې په محمدی شریعت کې حلال دی) د بنی اسرائیلو لپاره هم حلال وو، یوازې هغه څه ورته حرام وو چې اسرائیل( یعنی یعقوب علیه السلام د ځینو وجوهاتو له مخې) د تورات د نزول نه وړاندې په ځان حرام کړی وو.( اوس دوی ادعا کوی چې دغه خوراکونه خو ابراهیمی شریعت حرام کړی دی، ای پیغمبره! دوی ته) ووایه که رښتونی یاست نو د خپلې ادعا د اثبات لپاره تورات رامخی ته کړئ او ویی لولئ.

فَمَنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلظَّٰلِمُونَ ٩٤

نو که سره له دې ټولو روښانه دلایلو بیا هم دوی خپل جوړ کړی دروغ،الله تعالی ته منسوبوی. په حقیقت کی لوی ظالمان دی.

قُلۡ صَدَقَ ٱللَّهُۗ فَٱتَّبِعُواْ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗا وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٩٥

ووایه: الله تعالی رښتیا وایی چې( حلال خوراکونه په ابراهیمی دین کی حرام نه وو) نو تاسو باید د ابراهیم د قانون پیروی وکړئ چې مشرک نه و بلکه د الله پاک په وحدانیت او حق پرستئ ټینګ ولاړ و.

إِنَّ أَوَّلَ بَيۡتٖ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكٗا وَهُدٗى لِّلۡعَٰلَمِينَ ٩٦

بیشکه د ځمکې په مخ د خلکو لپاره لومړنی عبادتځی هماغه د مکی( بیت الله الحرام) دی چې خیر او برکت ورکړی شوی او د ټولو نړیوالو لپاره د هدایت مرکز ټاکل شوی دی.

فِيهِ ءَايَٰتُۢ بَيِّنَٰتٞ مَّقَامُ إِبۡرَٰهِيمَۖ وَمَن دَخَلَهُۥ كَانَ ءَامِنٗاۗ وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ
حِجُّ ٱلۡبَيۡتِ مَنِ ٱسۡتَطَاعَ إِلَيۡهِ سَبِيلٗاۚ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ
ٱلۡعَٰلَمِينَ ٩٧

په هغه کی( د الله تعالی د ربوبیت، رحمت او مهربانی) څرګندې نښې (او د ابراهیم علیه السلام د دریدو ځای) مقام ابراهیم دی.څوک چې دغه کور ته ننوځی په امن دی او دا په خلکو باندې د الله تعالی حق( فرض) دی چې ( د مالی، بدنی استطاعت او امنیتی سهولت) په صورت کې به د دغه کور د حج مناسک اداء کوی او څوک چې( بې له عذره) د الله د کور حج و نه کړی او یا ورته عقیده و نه لری ( زیان یې خپل دی) او پوه دی شی چې الله پاک له انسانانو بې نیازه دی.

قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَٱللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا
تَعۡمَلُونَ ٩٨

ووایه: ای اهل کتابو ولې د الله پاک د احکامو له منلو انکار کوئ حال دا چې الله پاک ستاسو کړه وړه ښه وینی.

قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ مَنۡ ءَامَنَ تَبۡغُونَهَا
عِوَجٗا وَأَنتُمۡ شُهَدَآءُۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ٩٩

**ووایه: ای اهل کتابو ولی مؤمنان د الله تعالی له لارې منع کوئ او کږه یې ورته معرفی کوئ په داسې حال کی چې تاسو پخپله هم د دغې لارې په حقانیت گواهی ورکوئ، پوه شئ چې الله پاک ستاسو له اعمالو نه بې خبره نه دی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تُطِيعُواْ فَرِيقٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ
يَرُدُّوكُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡ كَٰفِرِينَ ١٠٠

**ای مؤمنانو! که تاسو د اهل کتابو د یوې ډلې اطاعت وکړئ،له ایمان او اسلام نه به مو بیرته د کفر لوری ته واړوی.**

وَكَيۡفَ تَكۡفُرُونَ وَأَنتُمۡ تُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ وَفِيكُمۡ رَسُولُهُۥۗ
وَمَن يَعۡتَصِم بِٱللَّهِ فَقَدۡ هُدِيَ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ١٠١

**او ولې به کافران کیږئ حال دا چې د الله تعالی آیتونه درته لوستل کیږی او رسول یې هم درسره موجود دی، او څوک چې د الله پاک د دین لمن ټینګه ونیسی په حقیقت کی د هدایت په مستقیمه لار روان دی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم
مُّسۡلِمُونَ ١٠٢

**ای مؤمنانو لکه څنګه چې لازمه ده( د فرایضو او واجباتو په اداء کولو او له منهیاتو او حرامو نه په اجتناب سره) الله تعالی ته ځانونه نږدې کړئ (او د مرګ په وخت له ټینګ ایمان سره) د مسلمانانو په حیث له دې نړۍ نه رخصت واخلی.**

وَٱعۡتَصِمُواْ بِحَبۡلِ ٱللَّهِ جَمِيعٗا وَلَا تَفَرَّقُواْۚ وَٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ
عَلَيۡكُمۡ إِذۡ كُنتُمۡ أَعۡدَآءٗ فَأَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوبِكُمۡ فَأَصۡبَحۡتُم بِنِعۡمَتِهِۦٓ إِخۡوَٰنٗا
وَكُنتُمۡ عَلَىٰ شَفَا حُفۡرَةٖ مِّنَ ٱلنَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنۡهَاۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ
لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ﴿١٠٣﴾

او ټول د الله رسۍ( قرآن او سنت) ټينګه ونيسئ او په ډلو تېت مه کېږئ، د الله تعالی نعمتونه او لورينې ياد ساتئ.( د پيغمبر د بعثت او قرآن د نزول نه وړاندې) تاسو د يو بل وينو ته تږي ناست وئ خو الله پاک ستاسو زړونه له يو بل سره د مينې او محبت په مزو وصل کړل او بيا په خپل منځ کې سره ورونه ورونه شوئ( او تاسو د شرک او بت پرستئ له امله د دوزخ) د اور په څنډه ناست وئ( خو د ايمان په وسيله) يې له اوره وساتلئ. په دې ډول الله پاک تاسو ته خپل آيتونه( او نعمتونه) بيانوي تر څو د هدايت په لاره برابر اوسئ.

وَلۡتَكُن مِّنكُمۡ أُمَّةٞ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلۡخَيۡرِ وَيَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ
ٱلۡمُنكَرِۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿١٠٤﴾

او په تاسو کې بايد داسې يو جماعت( تربيه شي چې د قرآن او سنت احکام زده کړي او بيا نور خلک) د نيکۍ لور ته راوبلي او له ناروا يې منع کړي، ( او د همدغې سترې فريضې سرته رسوونکي)په حقيقت کې بريالي او نيکمرغه خلک دي.

وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ تَفَرَّقُواْ وَٱخۡتَلَفُواْ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُۚ
وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ﴿١٠٥﴾

او د هغو کسانو(يهوديانو او مسيحيانو) په شان مه کېږئ چې د الله تعالی د روښانه دلايلو او احکامو له اوريدو سره سره په خپل منځي جګړو اخته او په بيلابيلو ډلو وويشل شول. پوه شئ چې د دغه کار مرتکبين به له سخت عذاب سره مخامخ شي.

يَوۡمَ تَبۡيَضُّ وُجُوهٞ وَتَسۡوَدُّ وُجُوهٞۚ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱسۡوَدَّتۡ وُجُوهُهُمۡ
أَكَفَرۡتُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡ فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ١٠٦

( د قيامت له ورځې وويرېږۍ) هغه ورځ چې ځينی کسان به سرخرويه او ځينې نور به تور مخی ( له قبرونو راپورته شی) تور مخو ته به ويل کيږی: همدا تاسو وئ چې د خپل( فطری) ايمان نه وروسته کافران شوئ، اوس نو د خپل کفر له امله د سخت عذاب خوند واخلئ.

وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱبۡيَضَّتۡ وُجُوهُهُمۡ فَفِي رَحۡمَةِ ٱللَّهِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ١٠٧

او د ځلاندو څيرو لرونکی به د الله تعالی د رحمت په سيوری کی د خوښئ او نيکمرغی ابدی ژوند تيروی.

تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ نَتۡلُوهَا عَلَيۡكَ بِٱلۡحَقِّۗ وَمَا ٱللَّهُ يُرِيدُ ظُلۡمٗا
لِّلۡعَٰلَمِينَ ١٠٨

دا د(نيکانو د اجر او بد کارانو د عذاب په باب) د الله تعالی حق آيتونه دی چې مونږ يې تاته بيانوو، او الله تعالی په بشری پرګنو د ظلم او زياتی هيڅ اراده نه لری.

وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ١٠٩

د آسمانونو او ځمکې د ټولو موجوداتو( پيداکوونکی، واکدار او د چارو سمبالوونکی) الله تعالی دی او د( خلکو) ټولې چارې بالاخره د هغه حضور ته ورګرځی( چې هر چا ته به د هغه د اعمالو بدله ورکړی).

كُنتُمۡ خَيۡرَ أُمَّةٍ أُخۡرِجَتۡ لِلنَّاسِ تَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَتَنۡهَوۡنَ
عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَتُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِۗ وَلَوۡ ءَامَنَ أَهۡلُ ٱلۡكِتَٰبِ
لَكَانَ خَيۡرٗا لَّهُمۚ مِّنۡهُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَأَكۡثَرُهُمُ
ٱلۡفَٰسِقُونَ ١١٠

ای مؤمنانو! تاسو د نړۍ د تر ټولوغوره امت په حيث د انسانی پرګنو د خير ښيګڼې او اصلاح لپاره پيدا شوی ياست چې خلک نيکی ته رابلئ او له بديو يې منع کوئ او په الله تعالی ايمان لرئ. که دغو اهل کتابو(هم

ستاسو په شان) ایمان راوړی وی ډیره به ورته ښه وه. که څه هم په هغوی کی لږ شمیر د ایمان خاوندان شته خو زیاتره یې فاسقان او له الهی احکامو څخه سرغړونکی دی.

لَن يَضُرُّوكُمْ إِلَّآ أَذًى ۖ وَإِن يُقَٰتِلُوكُمْ يُوَلُّوكُمُ ٱلْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ ﴿١١١﴾

دوی تاسو ته هیڅ زیان نشی دراړولی( که ډیره وسه وکړی نو دروغ او تومت به درباندې ووایی) او تاسو به درباندې وزوروی. که د جګړې په ډګر کې درسره مخامخ شی، ماته به وخوری او تښتی به. او بیا به داسې بې وسه وی چې له هیڅ لوری به یې مرسته او ملاتړ ونشی.

ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلذِّلَّةُ أَيْنَ مَا ثُقِفُوٓا۟ إِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَحَبْلٍ مِّنَ ٱلنَّاسِ وَبَآءُو بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلْمَسْكَنَةُ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقْتُلُونَ ٱلْأَنۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا۟ وَّكَانُوا۟ يَعْتَدُونَ ﴿١١٢﴾

دوی چې هر ځای ومومندل شی، د ذلت او سپکاوی نښې به یې په تندو ښکاره ځلیږی.( هیڅ لاره به نه لری) یا به د الله تعالی رسۍ ټینګه نیسی( ایمان به راوړی او د اسلامی شریعت منلو ته به غاړه ږدی) او یا به( د ذمیانو په حیث د جزیی په ورکولو سره) مؤمنانو ته تسلیمیږی. ځکه همدوی وو چې د الله تعالی له آیتونو منکریدل او پیغمبران به یې په ناحقه وژل، اوس د الله په قهر اخته شوی او خواری او ذلت ورباندی مسلط دی. د الله له حدودو نه د باغیانو او تیری کوونکو انجام او عاقبت خو وی همداسې.

۞ لَيْسُوا۟ سَوَآءً ۗ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ أُمَّةٌ قَآئِمَةٌ يَتْلُونَ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ ءَانَآءَ ٱلَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُونَ ﴿١١٣﴾

خو ټول اهل کتاب سره یو شان نه دی، په دوی کی داسې کسان هم شته چې په سمه لار روان دی( او د الله تعالی او انسانانو د حقوقو رعایت کوی) د شپې په تړږمی کی د کتاب الله تلاوت کوی او( لمونځونه) سجدې کوی.

يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَيَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ
وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَيُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ مِنَ
ٱلصَّٰلِحِينَ ١١٤

**په الله او د آخرت په ورځ ايمان لري، په نيكيو امر كوي او له بديو خلک منع كوي او د ښيګڼې په هر كار كې چټک ګامونه اخلي او همدوی دي ربښتونی صالحان .**

وَمَا يَفۡعَلُواْ مِنۡ خَيۡرٖ فَلَن يُكۡفَرُوهُۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ
بِٱلۡمُتَّقِينَ ١١٥

**او د دوی هيڅ يوه نيكی به هم بې قدره او بې ارزښته و نه ګڼل شي( بلكه څو څو چنده اجر او ثواب به وركړی شي) او الله تعالی د پرهيزګارانو( په ارادو او كړنو) ډير ښه خبر دی.**

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَن تُغۡنِيَ عَنۡهُمۡ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ
شَيۡـٔٗاۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۚ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ١١٦

**هغه كسان چې د كفر لاره يې غوره كړې، د الله تعالی( له عذابه به يې) نه مال او شتمنی خلاص كړی او نه اولاد. بلكه دوزخ ته ورتلونكی دی او هماغه يې ابدی كور دی.**

مَثَلُ مَا يُنفِقُونَ فِي هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا كَمَثَلِ رِيحٖ فِيهَا صِرٌّ
أَصَابَتۡ حَرۡثَ قَوۡمٖ ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فَأَهۡلَكَتۡهُۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ ٱللَّهُ
وَلَٰكِنۡ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ١١٧

**هغه مال او سرمايه چې(كافران يې) پخپل دنيوی ژوند كی( په خيريه چارو كی) مصرفوی، د لګښت مثال يې هغې توندې تيزې او يخې سيلۍ( باد صرصر) ته ورته دی چې( د مجازات) په توګه د كوم ظالم قوم په كښت راوالوزی او تس نس يې كړی. الله پاک په هغوی ظلم نه دی كړی بلكه دوی پخپله د ځان دښمنان دی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ بِطَانَةً مِّن دُونِكُمۡ لَا يَأۡلُونَكُمۡ
خَبَالٗا وَدُّواْ مَا عَنِتُّمۡ قَدۡ بَدَتِ ٱلۡبَغۡضَآءُ مِنۡ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَمَا تُخۡفِي
صُدُورُهُمۡ أَكۡبَرُۚ قَدۡ بَيَّنَّا لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِۖ إِن كُنتُمۡ تَعۡقِلُونَ ١١٨

ای د ایمان خاوندانو! له مؤمنانو نه غیر، بل چاته د خپلو رازونو غوتې مه راسپړی، ځکه هغوی ستاسو په ضد ډول ډول دسیسې او مفسد پلانونه جوړوی، ستاسو په هر درد او غم خوشالیږی،( د اسلام او مسلمانانو سره) قلبی دښمنی یې له خبرو ښکاری او د زړونو د تل نفرت او کینه یې لا څو چنده نوره هم زیاته ده.مونږ د هغوی د کینې او دښمنۍ نښې تاسو ته ښې روښانه کړې،که پوهه لرئ( نو له هغو سره په راشه درشه او روابطو کی پام او احتیاط کوئ).

هَٰٓأَنتُمۡ أُوْلَآءِ تُحِبُّونَهُمۡ وَلَا يُحِبُّونَكُمۡ وَتُؤۡمِنُونَ بِٱلۡكِتَٰبِ كُلِّهِۦ وَإِذَا
لَقُوكُمۡ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَوۡاْ عَضُّواْ عَلَيۡكُمُ ٱلۡأَنَامِلَ مِنَ ٱلۡغَيۡظِۚ قُلۡ
مُوتُواْ بِغَيۡظِكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ١١٩

تاسو له هغوی سره مینه لرئ خو( هوښیار اوسئ چې) هغوی ستاسو سره هیڅ مینه نه لری او تاسو په ټولو(آسمانی) کتابونو ایمان لرئ( خو هغوی پرې ایمان نه لری) کله چې ستاسو سره مخامخ شی وایی: مونږ هم(په پیغمبر او قرآن) ایمان راوړی، خو بیا په خپلمنځی مجلسونو کې، تاسو ته له قهر او غضب نه ګوتې چیچی. ورته ووایه: د خپلې غوصې په تاو کې مو زړونه پړک وچوه. الله تعالی د زړونو د تل په پټو اسرارو ډیر ښه پوه دی.

إِن تَمۡسَسۡكُمۡ حَسَنَةٞ تَسُؤۡهُمۡ وَإِن تُصِبۡكُمۡ سَيِّئَةٞ يَفۡرَحُواْ بِهَاۖ وَإِن
تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ لَا يَضُرُّكُمۡ كَيۡدُهُمۡ شَيۡـًٔاۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا
يَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ ١٢٠

که تاسو ته ښیګڼه( فتحه او غنیمت) در په برخه شی نو په دوی د لوی غم آسمان راکوز شی او که څه صدمه او مصیبت درته ورسی نو په کورونو یی لوی اختر او خوشالی وی.خو که تاسو د دوی د ازار او اذیت په مقابل کی د صبر او سړې سینی نه کار واخلئ او (له دوستئ نه یې) ځانونه وساتئ، د هغوی دسیسې او

**معاندانه چلوټې تاسو ته هیڅ زیان نشی دراړولی ځکه چې الله تعالی د دوی په ټولو اعمالو پوره تسلط  او حاکمیت لری( او کولی شی چې په پوره قوت سره د دوی خاینانه پلانونه او شیطانی دسیسې شنډې کړی).**

وَإِذۡ غَدَوۡتَ مِنۡ أَهۡلِكَ تُبَوِّئُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ مَقَٰعِدَ لِلۡقِتَالِۗ وَٱللَّهُ
سَمِيعٌ عَلِيمٌ ١٢١

**( ای  پیغمبره!)کله چې ته د سهار په خره کې له خپل کوره ووتې او د( احد په میدان کې دې) مجاهدین د جنګی سنګرونو په برابرولو موظف کړل(او د غشو  ویشتونکو، سپرو او پیاده مجاهدینو سنګرونه  دې مشخص کړل) او الله پاک اوریدونکی او پوه ذات دی( ستاسو خبرې یې اوریدې او په اندیښنو مو ښه پوهیده).**

إِذۡ هَمَّت طَّآئِفَتَانِ مِنكُمۡ أَن تَفۡشَلَا وَٱللَّهُ وَلِيُّهُمَاۗ وَعَلَى ٱللَّهِ
فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ١٢٢

**او هغه وخت یاد کړه چې له تاسو نه دوه ډلې ( بنو حارثه او بنو سلمه) زړه نا زړه او متردد‌ې شوې( تر دې چې غوښتل یې له نیمی لارې بیرته وګرځی او جهاد ترک کړی)خو الله تعالی یې ملګری و( او له دې شیطانی هوډ نه یې منصرف کړل) او مؤمنان باید یوازې په الله تعالی توکل وکړی.**

وَلَقَدۡ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ بِبَدۡرٖ وَأَنتُمۡ أَذِلَّةٞۖ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ١٢٣

**الله تعالی په بدر کې هم په داسې حال کې ستاسو مرسته وکړه چې تاسو( د وسلو او نظامی تجهیزاتو او افرادو د شمیر له لحاظه) ډیر کمزوری وی، نو( په تاسو لازمه ده چې) له الله تعالی نه وویریږئ او د احسان او لورینو مننه یې  وکړئ.**

إِذۡ تَقُولُ لِلۡمُؤۡمِنِينَ أَلَن يَكۡفِيَكُمۡ أَن يُمِدَّكُمۡ رَبُّكُم بِثَلَٰثَةِ ءَالَٰفٖ مِّنَ
ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ مُنزَلِينَ ١٢٤

**هغه وخت یاد کړه چې تا مؤمنانو ته وویل: آیا دا درته کافی نه ده چې الله پاک درسره د درې زره پرښتو په رالیږلو مرسته وکړی؟**

بَلَىٰٓۚ إِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ وَيَأۡتُوكُم مِّن فَوۡرِهِمۡ هَٰذَا يُمۡدِدۡكُمۡ رَبُّكُم
بِخَمۡسَةِ ءَالَٰفٖ مِّنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِينَ ١٢٥

بیشکه( چې دغه درته پوره ده خو برسیره په دې) که تاسو( د جګړې په شدت کې) صبر ،ثبات  او پرهیزګاری
خپله کړئ نو د دښمن له حملې سره سم به، الله تعالی لا د پنځه زرو نښه ویشتونکو او ضربتی پرښتو په
وسیله ستاسو ملاتړ وکړی.

وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا بُشْرَىٰ لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوبُكُم بِهِۦ ۗ وَمَا ٱلنَّصْرُ إِلَّا مِنْ
عِندِ ٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَكِيمِ ﴿١٢٦﴾

(دا د پرښتو د کومک خبره) الله پاک تاسو ته د فتحی د زیری او قلبی اطمینان لپاره کوی. بری او فتحه یوازې
د الله تعالی له لوری دی چې برلاسی او د حکمت خاوند ذات دی.

لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِّنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَوْ يَكْبِتَهُمْ فَيَنقَلِبُوا۟ خَآئِبِينَ ﴿١٢٧﴾

(د پرښتو په واسطه، ستاسو د مرستې هدف دادی) ترڅو د کافرانو سرغنه (او جنګی قو ماندانان) له منځه
یوسی او یا یې له  داسې شرموونکې ماتې سره مخامخ کړی چې نامراده  او ذلیل ستانه شی( او د جګړې ګټلو
نشه یې له سره والوزی).

لَيْسَ لَكَ مِنَ ٱلْأَمْرِ شَىْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ
ظَٰلِمُونَ ﴿١٢٨﴾

(ای پیغمبره ستا وظیفه یوازې،خلکو ته د الله تعالی د حکم او فرمان  رسول او اورول دی، د سرنوشت) نور
اختیار یې په تا پورې اړه نه لری( کافران که توبه وباسی) کیدی شی چې الله پاک یې توبه قبوله کړی او یا
ورته (په دنیا کی د ذلت او په آخرت کې د دوزخ سزا ورکړی ځکه ) دوی ظالمان دی.

وَلِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ يَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن
يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢٩﴾

د آسمانونو او ځمکې ټول موجودات او مخلوقات د الله تعالی د مالکیت او ټولواکی لاندی دی، چاته چې یې اراده
وشی ښښنه ورته کوی او چاته چې وغواړی عذاب ورکوی او الله پاک ډیر زیات ښښونکی  او مهربان ذات  دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَأْكُلُوا۟ ٱلرِّبَوٰٓا۟ أَضْعَٰفًا مُّضَٰعَفَةً ۖ
وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٣٠﴾

ای د ایمان خاوندانو! سود چې څو چنده ګټه ده مه خورئ، د الله پاک له عذابه وویرېږئ، تر څو مو بریالیتوب او نیکمرغي په برخه شي.

وَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ٱلَّتِيٓ أُعِدَّتۡ لِلۡكَٰفِرِينَ ١٣١

او له هغه اور نه ځانونه وساتئ چې د کافرانو لپاره تیار کړی شوی دی.

وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ١٣٢

او د الله او رسول د احکامو پیروي وکړئ، تر څو رحم درباندې وشي.

۞ وَسَارِعُوٓاْ إِلَىٰ مَغۡفِرَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ وَجَنَّةٍ عَرۡضُهَا
ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ أُعِدَّتۡ لِلۡمُتَّقِينَ ١٣٣

(په نیکو اعمالو سره) کوښښ او (له یو بل سره) مسابقه وکړئ د خپل رب د بښنې او هغه جنت د ګټلو لپاره چې پراخوالی( او ارزښت یې) د آسمانونو او ځمکې له وسعت (او ارزښت) سره برابر او د پرهیزګارانو لپاره تیار کړی شوی دی.

ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي ٱلسَّرَّآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَٱلۡكَٰظِمِينَ ٱلۡغَيۡظَ
وَٱلۡعَافِينَ عَنِ ٱلنَّاسِۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٣٤

پرهیزګاران هغه کسان دي چې په شتمنۍ او بې وزلۍ دواړو حالاتو کې د الله په لار کې نفقې ورکوي، خپل قهر او غوسه پخپل زړه تیروي او د خلکو په تیروتنو او اشتباهاتو (سترګې پټوي او) ښښنه ورته کوي( او د دغو صفاتو په لاسته راوړلو سره د نیکانو په صف کې حسابیږي) او بیشکه چې الله تعالی له نیکانو سره مینه لري.

وَٱلَّذِينَ إِذَا فَعَلُواْ فَٰحِشَةً أَوۡ ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ ذَكَرُواْ ٱللَّهَ
فَٱسۡتَغۡفَرُواْ لِذُنُوبِهِمۡ وَمَن يَغۡفِرُ ٱلذُّنُوبَ إِلَّا ٱللَّهُ وَلَمۡ يُصِرُّواْ
عَلَىٰ مَا فَعَلُواْ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ١٣٥

او (د متقیانو بل غوره صفت دادی چې) که د کومی ( کبیره) گناه مرتکب شی او یا د (صغیره) گناه په ارتکاب سره په ځان ظلم وکړی نو ورسره جوخت، الله تعالی وریادیږی او د هغه په ثنا اوصفت سره د خپلو گناهونو ښښنه غواړی، (ځکه پوهیږی چې) یوازې د الله پاک مقتدر ذات د گناهونو د ښښلو صلاحیت او قدرت لری، او( پرهیزگاران) بیا، نه قصداً او عمداً په خپله گناه ټینگار کوی او نه یې تکراروی.

أُوْلَٰٓئِكَ جَزَآؤُهُم مَّغۡفِرَةٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَجَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ وَنِعۡمَ أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ١٣٦

د دغو پرهیزگارانو اجر دا دی چې الله تعالی ورته ښښنه کوی او په هغو جنتونو یې نازوی چې د ( ونو) لاندی یې( د الهی نعمتونو) ویالی روانی دی او دا به د دوی تل پاتی هستوگنځی وی.څه ښه اجر او ثواب دی چې د نیک عمله خلکو په برخه کیږی( هغوی چې خپل ټول ژوند یې د قرآن او سنت د احکامو متابعت ته وقف کړی دی).

قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِكُمۡ سُنَنٞ فَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ١٣٧

له تاسو نه وړاندې ډیر ولسونه( او کافرانو ته د عبرتناکو سزاگانو) ډیرې طریقی او پیښې تیری شویدی، په ځمکه کی وگرځئ او په دقت او تأمل سره وگوری، هغه خلک چې( د الله تعالی حق احکام او لارښوونې یې) دروغ گڼلې وی، له څه ډول ناوړه عاقبت سره مخ شول؟

هَٰذَا بَيَانٞ لِّلنَّاسِ وَهُدٗى وَمَوۡعِظَةٞ لِّلۡمُتَّقِينَ ١٣٨

دا (قرآن) د ټولو انسانی پرگنو لپاره( د واقعاتو او پیښو بیانوونکی) او د پرهیزگارانو لپاره سر تر پایه د هدایت او لارښوونې( ستره مرجع) ده.

وَلَا تَهِنُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ١٣٩

او( د الهی احکامو په تطبیق او له دښمن سره په جهاد کی)ناراسته او بې زړه کیږئ مه( او د حوادثو او مصیبتونو له امله) اندیښنه هم مه کوئ، بیشکه برلاسی او فتحه ستاسو ده خو که مؤمنان یئ.

إِن يَمۡسَسۡكُمۡ قَرۡحٞ فَقَدۡ مَسَّ ٱلۡقَوۡمَ قَرۡحٞ مِّثۡلُهُۥۚ وَتِلۡكَ ٱلۡأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيۡنَ ٱلنَّاسِ وَلِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَيَتَّخِذَ مِنكُمۡ شُهَدَآءَۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٤٠

كه( د احد په جګړه کې) تاسو ټپي شوئ(او صدمه درته ورسيده) نو هغوی هم( په بدر کی) ستاسو په شان ټپيان شوی( او صدمې ورته رسيدلی دی) دا د زمانې لړی او برئ( فتحی او ناکامئ) دی چې مونږ يې د ازميښت په توګه ( د خلکو ترمنځ اړوو- رااړوو) تر څو ثابت قدمه او ربښتونی مؤمنان مشخص شی او هم ستاسو له ډلې نه یو شمیر مجاهدینو ته د شهادت لوړ مقام ورپه برخه کړو( ځکه بې زړه او بې تقوی انسان په حقيقت کی په ځان) ظالم دی چې د الله تعالی نه خوښيږي.

وَلِيُمَحِّصَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَيَمۡحَقَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٤١

(او تاسو ته د صدمی په رسيدو سره الله تعالی غوښتل) تر څو ربښتونی او صادق مؤمنان( له هر عيبه) پاک او تصفيه کړی او کافران له منځه يوسی.

أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تَدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ وَلَمَّا يَعۡلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمۡ وَيَعۡلَمَ ٱلصَّٰبِرِينَ ١٤٢

آيا داسې انګيرئ چې د بې عمله ايمان په ادعاو به جنت ته لاړ شئ او لا به الله پاک واقعی مجاهدين او صابرين( د تکاليفو او ستونزو د ازميښت له بتئ ) بريالی راويستلی نه وی؟

وَلَقَدۡ كُنتُمۡ تَمَنَّوۡنَ ٱلۡمَوۡتَ مِن قَبۡلِ أَن تَلۡقَوۡهُ فَقَدۡ رَأَيۡتُمُوهُ وَأَنتُمۡ تَنظُرُونَ ١٤٣

همدا تاسو واست چې( کله مو د بدر د شهداو د لوړو درجو خبر واوريد نو شپه ورځ مو د الله تعالی په لار کی د شهادت) د مرګ ارزو کوله خو (اوس چې د احد په میدان کی) دغه مرګ په خپلو سترګو وينئ( او ښه ګورئ چې مؤمنان ورونه مو يو په بل پسې شهيدان کيږی نو زړونه مو له ويرې ريږدی او د وړاندې تګ په ځای شاتګ خوښوئ).

وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ ٱلرُّسُلُۚ أَفَإِيْن مَّاتَ أَوْ
قُتِلَ ٱنقَلَبْتُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَـٰبِكُمْۚ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ ٱللَّهَ
شَيْـًٔاۗ وَسَيَجْزِى ٱللَّهُ ٱلشَّـٰكِرِينَ ١٤٤

**ا و محمد( صلى الله عليه وسلم) د الله رسول دى، د هغه نه وړاندې نور پيغمبران هم تير شوى نو كه هغه وفات يا ووژل شى آيا تاسو به له( ايمان او اسلام نه) بيرته كفر او بت پرستى ته گرځئ؟او څوک چې له ايمانه بيرته كفر ته وگرځى، الله تعالى ته هيڅ زيان نشى اړولى( بلكه له ځان سره ظلم كوى) او بيشكه چې الله تعالى( د اسلام په نعمت) شكر كوونكو ته لوى اجر وركوى.**

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ كِتَـٰبًا مُّؤَجَّلًاۗ وَمَن
يُرِدْ ثَوَابَ ٱلدُّنْيَا نُؤْتِهِۦ مِنْهَا وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ ٱلْـَٔاخِرَةِ نُؤْتِهِۦ مِنْهَاۚ
وَسَنَجْزِى ٱلشَّـٰكِرِينَ ١٤٥

**او هيڅ ساكښ د الله تعالى له مشيت او حكم نه غير نشى مړ كيدى. د هر چا د مرگ لپاره يو ټاكلى وخت( د سرنوشت په كتاب كى ثبت دى) څوک چې د دنيا اجر غواړى يو څه برخه وركوو او څوک چې د آخرت اجر غواړى نو هم يې وركوو او بيشكه چې شكر كوونكى( احسان منونكى) د لا زيات اجر او ثواب مستحق دى.**

وَكَأَيِّن مِّن نَّبِىٍّ قَـٰتَلَ مَعَهُۥ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُوا۟ لِمَآ أَصَابَهُمْ فِى
سَبِيلِ ٱللَّهِ وَمَا ضَعُفُوا۟ وَمَا ٱسْتَكَانُوا۟ۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلصَّـٰبِرِينَ ١٤٦

**او ډير داسې پيغمبران وو چې تر څنگ( او قيادت لاندې) يې د الله تعالى زيات شمير خاصو بندگانو جهاد كاوه او كه به هر ډول سخت تكليف او صدمه ورته د مقدس جهاد په لاره كې ورسيده، نه به يې شهامت او ميړانه له لاسه وركوله، نه به يې كمزورى ښودله او نه به يې بزدلۍ او ذلت ته غاړه ايښوده، او بيشكه چې الله تعالى له صابرو او ثابت قدمو(مؤمنانو) سره خاصه مينه لرى.**

وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ إِلَّآ أَن قَالُواْ رَبَّنَا ٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِيٓ أَمْرِنَا
وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ١٤٧

(په سختیو او کړاوونو کی) د هغوی دعا صرف دا وه چې: ای زمونږ ربه! زمونږ خطاوی او ګناهونه مونږ ته وبښه او د هغه تیری او اسراف ببښنه راته وکړه چې مونږ په خپلو چارو کې کړی دی،( د جهاد په ډګر کی) زمونږ قدمونه ټینګ کړه او په کافرانو د برلاسی لپاره راسره مرسته وکړه.

فَـَٔاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ ثَوَابَ ٱلدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ ٱلْـَٔاخِرَةِ ۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ
ٱلْمُحْسِنِينَ ١٤٨

نو الله تعالی( د هغوی د دعا په استجابت کی) هغوی ته د دنیا ثواب هم ورکړ( په دښمنانو یې برلاسی کړل او غنیمتونه او عزت او کرامت یې هم ورپه برخه کړ) او له هغه نه غوره ثواب یې ورته په آخرت کې هم تضمین کړ. بې له شکه چې الله تعالی له نیکانو او محسنینو سره ډیره مینه لری.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تُطِيعُواْ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
يَرُدُّوكُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَٰبِكُمْ فَتَنقَلِبُواْ خَٰسِرِينَ ١٤٩

ای مؤمنانو! که تاسو د کافرانو اطاعت وکړئ نو بیرته به مو کفر ته وګرځوی او سخت زیان به وومومی( دین او ایمان دواړه به وبایلئ).

بَلِ ٱللَّهُ مَوْلَىٰكُمْ ۖ وَهُوَ خَيْرُ ٱلنَّٰصِرِينَ ١٥٠

(ګورئ کافران نه ستاسو ملاتړی دی او نه د اطاعت وړ دی) بلکه حقیقی حامی او مرستندوی مو، الله تعالی دی او هغه تر ټولو ښه سرپرست او مرسته کوونکی دی.

سَنُلْقِي فِي قُلُوبِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلرُّعْبَ بِمَآ أَشْرَكُواْ بِٱللَّهِ
مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ سُلْطَٰنًا ۖ وَمَأْوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ ۚ وَبِئْسَ مَثْوَى
ٱلظَّٰلِمِينَ ١٥١

زر ده چې مونږ به د کافرانو په زړونو کې ویره او دهشت وغورځوو، ځکه دوی له الله تعالی سره داسې شریکان غوره کړی چې د حقانیت په باب یې هیڅ حکم او دلیل نه دی نازل شوی، نو د دوی اصلی هستوګنځی دوزخ دی، او واقعاً چې تر ټولو بد هستوګنځی د ظالمانو دی.

وَلَقَدۡ صَدَقَكُمُ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥٓ إِذۡ تَحُسُّونَهُم بِإِذۡنِهِۦۖ حَتَّىٰٓ إِذَا فَشِلۡتُمۡ وَتَنَٰزَعۡتُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِ وَعَصَيۡتُم مِّنۢ بَعۡدِ مَآ أَرَىٰكُم مَّا تُحِبُّونَۚ مِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلدُّنۡيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلۡأٓخِرَةَۚ ثُمَّ صَرَفَكُمۡ عَنۡهُمۡ لِيَبۡتَلِيَكُمۡۖ وَلَقَدۡ عَفَا عَنكُمۡۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٥٢﴾

او بیشکه چې الله تعالی ستاسو سره خپله( د فتحی او نصرت) وعده( د احد په غزا کی) پوره کړه چې تاسو خپل دښمنان د هغه په حکم د بیخکنۍ تر حده ووژل، خو کله چې بې همته شوئ او(د غنیمتونو په سر پخپلو کی سره) په جنجال اخته شوئ،او سره له دې چې الله تعالی ستاسو د هیلی مطابق (د فتحې او برۍ خبر لا د جګړې په پیل کی درکړی و)بیا مو هم( د سنګرونو د ساتلو په باب د پیغمبر د حکم)نافرمانی وکړه. د دی لپاره چې ستاسو یوې ډلی د دنیا( د جنګی غنیمتونو) ارزو لرله او بله ډله د اخروی نیکمرغی او الهی رضا په لټه کی وه، نو الله پاک تاسو په شا وتمبولئ( له جګړې یې منصرف کړئ او په دې توګه مو ګټلی میدان بایلود) تر څو تاسو وازمایی( او کره او مخلص مؤمنان له نورو جلا کړی، خو کله چې په خپلو کړو پښیمانه شوئ) تاسو ته یې ښښنه وکړه ځکه چې الله تعالی په مؤمنانو باندې د پیرزوینې او مهربانۍ لوی نظر لری.

۞ إِذۡ تُصۡعِدُونَ وَلَا تَلۡوُۥنَ عَلَىٰٓ أَحَدٖ وَٱلرَّسُولُ يَدۡعُوكُمۡ فِيٓ أُخۡرَىٰكُمۡ فَأَثَٰبَكُمۡ غَمَّۢا بِغَمّٖ لِّكَيۡلَا تَحۡزَنُواْ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمۡ وَلَا مَآ أَصَٰبَكُمۡۗ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ﴿١٥٣﴾

( ای مؤمنانو!) هغه وخت را یاد کړئ چې تیت و پرک په شا ځغلیدئ( او له سختي ویرې، د ځان د نجات نه غیر) د بل چا په فکر کې نه وئ او پیغمبر له شا درپسي نارې وهلې چې(ای د الله بندګانو! زما لوری ته راشئ، زه د الله رسول یم، او څوک چې په دښمن حمله وکړي جنت ورته په برخه تضمین دی...) خو تاسو حتی د پیغمبر په نارو هم غوږ نه ګراوه( او هغه مو سخت غمجن کړ) نو الله پاک هم درباندې د غم له پاسه نور غمونه مسلط کړل( تر څو د آینده لپاره د عبرت درس واخلئ) او په له لاسه وتلو (غنیمتونو) خفه نشئ او په خپله ماتې ( بې حوصلې او نا امیده نشئ). بې له شکه چې الله تعالی ستاسو په ټولو کړنو( او نیتونو) ډیر ښه خبر دی( او د هغو په اساس به درسره حساب کتاب کوي).

ثُمَّ أَنزَلَ عَلَيۡكُم مِّنۢ بَعۡدِ ٱلۡغَمِّ أَمَنَةٗ نُّعَاسٗا يَغۡشَىٰ طَآئِفَةٗ مِّنكُمۡۖ
وَطَآئِفَةٞ قَدۡ أَهَمَّتۡهُمۡ أَنفُسُهُمۡ يَظُنُّونَ بِٱللَّهِ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ ظَنَّ
ٱلۡجَٰهِلِيَّةِۖ يَقُولُونَ هَل لَّنَا مِنَ ٱلۡأَمۡرِ مِن شَيۡءٖۗ قُلۡ إِنَّ ٱلۡأَمۡرَ كُلَّهُۥ
لِلَّهِۗ يُخۡفُونَ فِيٓ أَنفُسِهِم مَّا لَا يُبۡدُونَ لَكَۖ يَقُولُونَ لَوۡ كَانَ لَنَا مِنَ
ٱلۡأَمۡرِ شَيۡءٞ مَّا قُتِلۡنَا هَٰهُنَاۗ قُل لَّوۡ كُنتُمۡ فِي بُيُوتِكُمۡ لَبَرَزَ ٱلَّذِينَ كُتِبَ
عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَتۡلُ إِلَىٰ مَضَاجِعِهِمۡۖ وَلِيَبۡتَلِيَ ٱللَّهُ مَا فِي صُدُورِكُمۡ
وَلِيُمَحِّصَ مَا فِي قُلُوبِكُمۡۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ١٥٤

له دغه غم او تکلیف نه وروسته،( سره له دې چې هره خوا د ویرې او ترهې فضا خپره وه ) د الله تعالی په امر، مخلص مؤمنان د یو خاص امن او اطمینان نه ډک سپک خوب( پرکالي) یوړل. بله ډله چې یوازې د خپل سر خیر یې غوښته( له دغه اطمیناني خوب نه محروم وو) دوی په الله تعالی باندې د جاهلیت د دورې ناروا ګومانونه کول( او پیغمبر ته یې ویل): په دې کار کې نو زمونږ کټه څه ده،( نه مو بری شته او نه غنیمت لاسته راځي؟) ورته ووایه: د کارونو ټول اختیار د الله تعالی سره دی. دا خلک د خپلو زړونو پټ منافقانه رازونه تاته نه څرګندوي، خو( پخپلو کې) وایي که په دې کار کې زمونږ څه واک اختیار وی( او مسلمانانو زمونږ په مشوره او پلان عمل کړی وی او یا د فتحې لپاره د الله او رسول وعده ریښتوني وی) نو مونږ به دلته نه وژل کیدو( ملګری به مو نه وو وژل شوي) . ورته ووایه که تاسو په خپلو کورونو کې هم ناست وئ، چاته چې مرګ لیکل شوی و( د الهی تقدیر له مخې به) خامخا خپل قتل ځای ته راوستل کیده.( څه چې د الله تعالی د مصلحت له مخې د احد په جنګ کې پیښ شول) د دې لپاره وو، ترڅو ستاسو د زړونو پټ اسرار( اخلاص،

یقین،ثبات او توکل په عینی ډول د خلکو په وړاندې) وازمایی او ستاسو زړونه ( د شیطان له وسوسو) پاک او تزکیه کړی. بیشکه چې الله پاک د زړونو په اسرارو ډیر ښه خبر دی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَلَّوۡاْ مِنكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡتَقَى ٱلۡجَمۡعَانِ إِنَّمَا ٱسۡتَزَلَّهُمُ
ٱلشَّيۡطَٰنُ بِبَعۡضِ مَا كَسَبُواْۖ وَلَقَدۡ عَفَا ٱللَّهُ عَنۡهُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ
حَلِيمٞ ١٥٥

(په احد کې) د دوو پوځونو( مؤمنانو او مشرکانو) د مقابلې په ورځ، ستاسو یو شمیر کسان( د الله تعالی له فرمان نه د سرکشی او) شیطانی وسوسو له امله وښویدل( او په شا وتښتیدل) خو الله پاک ورته بیاهم ښښنه وکړه ځکه الله تعالی ډیر ښښونکی او د زغم خاوند ذات دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَقَالُواْ لِإِخۡوَٰنِهِمۡ إِذَا
ضَرَبُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَوۡ كَانُواْ غُزّٗى لَّوۡ كَانُواْ عِندَنَا مَا مَاتُواْ وَمَا قُتِلُواْ
لِيَجۡعَلَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ حَسۡرَةٗ فِي قُلُوبِهِمۡۗ وَٱللَّهُ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۗ وَٱللَّهُ بِمَا
تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ١٥٦

ای مؤمنانو! د کافرانو تقلید مه کوئ چې کله یې دوستان او خپلوان په( تجارتی یا سیاحتی) سفرونو کی (مړه کیدل) یا په غزواتو کې( شهیدان کیدل) نو ورته یې ویل که له مونږ سره پاتې وی نه به مړه وی او نه به وژل شوی وی،( ای مؤمنانو تاسې داسې خبرې مه کوئ) پریږدئ چې الله تعالی دا ډول خبرې د هغوی په زړونو کی د غم او افسوس وسیله وګرځوی، په اصل کی د ژوند او مرګ واقعی واکدار پخپله الله تعالی دی چې ستاسو د ټولو اعمالو لیدونکی او څارونکی دی.

وَلَئِن قُتِلۡتُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَوۡ مُتُّمۡ لَمَغۡفِرَةٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَحۡمَةٌ خَيۡرٞ
مِّمَّا يَجۡمَعُونَ ١٥٧

که تاسو د الله تعالی په لار کی شهیدان شئ یا ومرئ نو هغه مغفرت او رحمت چې د الله تعالی له حضوره اخلئ، له هغو ټولو مالونوڅخه ډیر غوره دی چې دا کافران یې (په ټول ژوند کې) راغونډوی.

وَلَئِن مُّتُّمْ أَوْ قُتِلْتُمْ لَإِلَى ٱللَّهِ تُحْشَرُونَ ﴿١٥٨﴾

او که تاسو ومرئ یا ووژل شئ نو په هر حال به د الله تعالی حضور ته حشر شئ( او د اعمالو مکافات او مجازات به مو درکړی شی).

فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ لِنتَ لَهُمْ ۖ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ ٱلْقَلْبِ لَٱنفَضُّوا۟ مِنْ حَوْلِكَ ۖ فَٱعْفُ عَنْهُمْ وَٱسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِى ٱلْأَمْرِ ۖ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُتَوَكِّلِينَ ﴿١٥٩﴾

(ای پیغمبره!) دا په تا باندې د الله تعالی لوی رحمت دی چې( تا د هغو کسانو په مقابل کی چې ستا له فرمان نه یې سرکشی کړې وه ) نرمی وکړه، خو که ته تند خویه او سخت زړی وی خلک به درنه خواره واره شوی وی، نو تل دوی ته ښښنه کوه او مغفرت ورته غواړه او په چارو کی ورسره مشوره کوه بیا چې دې په هر تصمیم زړه مطمئن شو نو په الله توکل کوه، بیشکه چې په الله توکل کوونکی د هغه په حضور کې ډیر محترم او د قدر وړ دی.

إِن يَنصُرْكُمُ ٱللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ ۖ وَإِن يَخْذُلْكُمْ فَمَن ذَا ٱلَّذِى يَنصُرُكُم مِّنۢ بَعْدِهِۦ ۗ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿١٦٠﴾

که الله تعالی مو حامی او مرستندوی وی( لکه د بدر په جنګ کی چې یې ستاسو مرسته وکړه) نو هیڅ قوت درباندې برلاسی کیدی نشی، او که خوار او ذلیل مو کړی( لکه په احد کی چې پیښ شول) بل بیا څوک دی چې درسره مرسته وکړی؟ نو رښتینی مؤمنان با ید یوازې او یوازې په الله پاک توکل وکړی.

وَمَا كَانَ لِنَبِىٍّ أَن يَغُلَّ ۚ وَمَن يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٦١﴾

( مؤمنان باید هیڅکله د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د عظمت، عصمت او امانتداری په باب دا بدګومانی ونه کړی، چې خدای مه کړه هغه به د غنیمت مال پټ ساتلی وی) او هیڅ پیغمبر ته نه ښایی چې( د امت په چارو کې) خیانت وکړی او څوک چې د خیانت مرتکب شی، د قیامت په ورځ به له هماغه خیانت سره یو ځای( د محشر میدان ته) راوستل شی او د هغه د عمل سره سم به جزا ووینی او هیڅ ډول زیاتی به ورسره ونشی.

أَفَمَنِ ٱتَّبَعَ رِضْوَٰنَ ٱللَّهِ كَمَنۢ بَآءَ بِسَخَطٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَمَأْوَىٰهُ جَهَنَّمُ ۚ
وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٦٢﴾

ایا هغه څوک چې( په اطاعت او عبادت سره) د الله تعالی رضا او خوښی لټوی، د هغه چا په شان دی چې ( د معصیت او نافرمانۍ له امله) د الله پاک د قهر او غضب لاندې راغلی؟ او ځای یې دوزخ دی چې د ورتلو( او هستوګنې لپاره) تر ټولو بد ځای دی.

هُمْ دَرَجَٰتٌ عِندَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿١٦٣﴾

هغوی ټول( که مؤمنان دی که کافران) د الله تعالی په نزد مختلفې درجې او مقامونه لری او الله پاک د ټولو د کړو وړو لیدونکی او څارونکی دی.

لَقَدْ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُوا۟
عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلْكِتَٰبَ
وَٱلْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا۟ مِن قَبْلُ لَفِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿١٦٤﴾

بیشکه دا په مؤمنانو باندې د الله تعالی لوی احسان او لورینه ده چې د دوی له( انسانی) جنس نه یې داسې یو پیغمبر مبعوث کړ چې دوی ته د الله تعالی کتاب( قرآن) لولی،( له شرکی عقایدو او ناوړو اخلاقو) نه یې تزکیه کوی او کتاب او حکمت ورزده کوی، په داسې حال کی چې پخوا دوی په څرګنده ګمراهۍ کې ژوند کاوه.

أَوَلَمَّآ أَصَٰبَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَدْ أَصَبْتُم مِّثْلَيْهَا قُلْتُمْ أَنَّىٰ هَٰذَا ۖ قُلْ هُوَ
مِنْ عِندِ أَنفُسِكُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٦٥﴾

کوم مصیبت چې تاسو ته( په احد کې) رسیدلی و، تاسو هم د هغه دوه چنده تاوان( په بدر کې) خپل دښمن ته ورساوه، زیات شمیر مو ترې ووژل او زیات شمیر مو ترې ژوندی هم ونیول خو سره له دې هم) اوس چیغی وهی چې:( مونږ خو د الله په لاره کې جنګیدو او پیغمبر هم راسره و، او الله راسره د مرستې وعده هم کړې وه) نو ولې له مصیبت سره مخامخ شو؟ ورته ووایه: دغه ماتی او مصیبت ستاسو د خپل عمل نتیجه وه( چې د پیغمبر د حکم په خلاف مو سنګرونه پریښودل او په غنیمتونو پسې وځغاستۍ.) بیشکه چې الله تعالی د هر کار قدرت لری( او بری او ماتی هم د هغه په واک کې ده).

وَمَآ أَصَٰبَكُمْ يَوْمَ ٱلْتَقَى ٱلْجَمْعَانِ فَبِإِذْنِ ٱللَّهِ وَلِيَعْلَمَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٦٦﴾

او په احد کی د دوو لښکرو( مؤمنانو او کافرانو) د مقابلې په ورځ چې تاسو ته کومه مرګ ژوبله ورسیده د الله تعالی په فرمان( د قضا او قدر له مخې) وه، ترڅو مخلص مؤمنان( او د هغوی ایمان ثبات عامه منظر ته) را څرګند شی.

وَلِيَعۡلَمَ ٱلَّذِينَ نَافَقُواْۚ وَقِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ قَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَوِ ٱدۡفَعُواْۖ قَالُواْ لَوۡ نَعۡلَمُ قِتَالٗا لَّٱتَّبَعۡنَٰكُمۡۗ هُمۡ لِلۡكُفۡرِ يَوۡمَئِذٍ أَقۡرَبُ مِنۡهُمۡ لِلۡإِيمَٰنِۚ يَقُولُونَ بِأَفۡوَٰهِهِم مَّا لَيۡسَ فِي قُلُوبِهِمۡۚ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا يَكۡتُمُونَ ﴿١٦٧﴾

او هم د هغو منافقینو اصلی څیرې په ډاګه شی( چې د ایمان له ادعا سره سره، د الله او رسول حکم نه منی) او چې کله ورته امر وشی چې راشئ د الله په لار کی وجنګیږئ او یا( د مدینی د ښار) دفاع وکړئ نو په ځواب کی وایی چې که مونږ په جنګ (او نظامی چارو پوهیدی) خامخا به مو ستاسو ملګرتیا او متابعت کړی وی.(په د غه ډول پلمو سره) نن هغوی د ایمان په نسبت، بیخی کفر پلو ته نږدی وو، په ژبو چې څه وایی په زړونو کی یې نشته( او انګیری چې څوک وربانذې نه پوهیږی) خو الله تعالی د دوی د زړونو په پټو اسرارو هم ډیر ښه خبر دی.

ٱلَّذِينَ قَالُواْ لِإِخۡوَٰنِهِمۡ وَقَعَدُواْ لَوۡ أَطَاعُونَا مَا قُتِلُواْۗ قُلۡ فَٱدۡرَءُواْ عَنۡ أَنفُسِكُمُ ٱلۡمَوۡتَ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿١٦٨﴾

دغه کسان(نه یوازې دا چې پخپله له جګړې نه څنډې ته شول) او په خپلو کورونو کی کیناستل،بلکه د خپلو ورونړو( د احد د شهیدانو) په حقله وایی چې که دوی زمونږ خبره منلی وی، ولې به وژل کیدل؟ ورته ووایه که رښتینی یئ( او د مرګ او ژوند واک مو په لاس کی وی) نو د خپل مرګ مخه ونیسئ.

وَلَا تَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمۡوَٰتَۢاۚ بَلۡ أَحۡيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمۡ يُرۡزَقُونَ ﴿١٦٩﴾

او هغه کسان چې د الله تعالی په لار کی شهیدان شوی، مړه مه ګڼی بلکه هغوی ژوندی دی او د رب له خوا یې ورته روزی ورکول کیږی.

فَرِحِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦ وَيَسۡتَبۡشِرُونَ بِٱلَّذِينَ لَمۡ يَلۡحَقُواْ
بِهِم مِّنۡ خَلۡفِهِمۡ أَلَّا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ١٧٠

په هغو لورينو او احسانونو ډېر خوښ او سوکاله دی چې د رب له خوا يې ورته ورکړی شوی او د هغو مؤمنانو په حال هم خوشاله دی چه لا په دنيا کی( د شهادت په ارزو) پاتی دی. نه خو په دوی څه ويره شته او نه به غمجن او پريشانه شی.

۞ يَسۡتَبۡشِرُونَ بِنِعۡمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضۡلٖ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجۡرَ
ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٧١

هغوی د الله تعالی په نعمتونو او مهربانيو خوشاله او سوکاله دی او په دی هم ډاډمن دی چې الله تعالی د مؤمنانو اجر نه ضايع کوی.

ٱلَّذِينَ ٱسۡتَجَابُواْ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِ مِنۢ بَعۡدِ مَآ أَصَابَهُمُ ٱلۡقَرۡحُۚ لِلَّذِينَ
أَحۡسَنُواْ مِنۡهُمۡ وَٱتَّقَوۡاْ أَجۡرٌ عَظِيمٌ ١٧٢

( د نيک عملو متقيانو اوپرهيزګارانو) هغه ډله چې(د احد له غزا نه مدينی ته له راستنيدو سره سم يې) په زخمی او ټوک ټوک بدنونو (بيرته د بل جنګ لپاره) د الله او رسول امر ته لبيک ووايه( او د ابوسفيان او نورو مشرکانو په لټون پسې د حمراءالاسد ميدان ته روان شول او هغوی چې خپل ماموريت يې د نظامی قوماندې سره سم په پوره اطاعت سرته ورساوه او د الله او رسول له نافرمانۍ نه يې) ځانونه وساتل، د لوی اجر او ثواب مستحق دی.

ٱلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ ٱلنَّاسُ إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدۡ جَمَعُواْ لَكُمۡ فَٱخۡشَوۡهُمۡ
فَزَادَهُمۡ إِيمَٰنٗا وَقَالُواْ حَسۡبُنَا ٱللَّهُ وَنِعۡمَ ٱلۡوَكِيلُ ١٧٣

دا هغه کسان دی چې کله ورته خلکو( يعنې د عبدالقيس تجارتی قافلې چې له ابوسفيان نه يې رشوت اخستی و ) وويل چې ځان ساتئ ستاسو مقابلې ته خو( د مکې د قريشو) لويې لښکرې راجمع شوی، نو ايمان يې نور هم پياوړی شو او په( شهامت او جرأت) يې ځواب ورکه چې( د ټولې دنيا په مقابل کې) الله تعالی زمونږ لپاره کافی او زمونږ ډير ښه کارساز دی.

فَٱنقَلَبُواْ بِنِعۡمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضۡلٖ لَّمۡ يَمۡسَسۡهُمۡ سُوٓءٞ وَٱتَّبَعُواْ رِضۡوَٰنَ
ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضۡلٍ عَظِيمٍ ١٧٤

نو( بې له دې چې کومه نښته وشي يا دوی ته کومه صدمه ورسی د جګړې له ډګر نه د سرلوړو او فاتحو قواو په حيث) د الهی نعمتونو او لورينو( تجارتی ګټو) نه په ډکو منګولو په داسې حال کې راستانه شول (چې پخپل ايمانی رعب او دبدبې سره يې خپل مشرک دښمنان زغلولی وو)او د الله تعالی خوښنی يې هم په برخه شوې وه، بيشکه چې الله تعالی د لوی فضل او لوريني څښتن دی.

إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ يُخَوِّفُ أَوۡلِيَآءَهُۥ فَلَا تَخَافُوهُمۡ وَخَافُونِ إِن كُنتُم
مُّؤۡمِنِينَ ١٧٥

په حقيقت کی، همدا( سړی چې تاسو ته راغلی شيطان( يا د شيطان پيرو) دی چې غواړی د خپلو دوستانو( کافرانو) ويره او رعب په تاسو وغورزوی او ( د ناوړو او دروغجنو افواهاتو په خپرولو سره مو له جهاد نه زړه توری کړی) نو که تاسو رښتونی مؤمنان یی، بايد له دغو(کافرانو) ونه ويرېږئ او( زما له عذابه) وويرېږئ( او په پوره جرأت او ميړانه مقدس جهاد ته ادامه ورکړئ).

وَلَا يَحۡزُنكَ ٱلَّذِينَ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡكُفۡرِۚ إِنَّهُمۡ لَن يَضُرُّواْ ٱللَّهَ شَيۡـٔٗاۗ
يُرِيدُ ٱللَّهُ أَلَّا يَجۡعَلَ لَهُمۡ حَظّٗا فِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٌ ١٧٦

( ای پيغمبره) په هغو منډو ترړو او هلو ځلو چې کافران يې د کفر د ترقی او خپرولو لپاره کوی، مه خفه کيږه. دوی الله تعالی ته هيڅ زيان نشی اړولی بلکه الله پاک غواړی( د سزا په توګه) هغوی د آخرت له اجر او ثوابه بې برخې او په لوی عذاب يې اخته کړی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلۡكُفۡرَ بِٱلۡإِيمَٰنِ لَن يَضُرُّواْ ٱللَّهَ شَيۡـٔٗا وَلَهُمۡ
عَذَابٌ أَلِيمٞ ١٧٧

بيشکه،هغه کسان چې کفر يې د ايمان په بدل کې اخستی،الله تعالی ته کوم زيان نشی رسولی بلکه پخپله به دوی له دردوونکی عذاب سره مخامخ شی.

وَلَا يَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّمَا نُمۡلِي لَهُمۡ خَيۡرٞ لِّأَنفُسِهِمۡۚ إِنَّمَا نُمۡلِي لَهُمۡ
لِيَزۡدَادُوٓاْ إِثۡمٗاۚ وَلَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ ١٧٨

**کافران دې دا فکر له سره وباسی چې ګواکې دوی ته ورکړی شوی مهلت به د دوی په ګټه وی، بلکه مهلت د دې لپاره ورته ورکوو چې غواړو د دوی د ګناهونو پیټی لاپسې دروند شی او په پای کې له سپکوونکی عذاب سره مخامخ شی.**

مَّا كَانَ ٱللَّهُ لِيَذَرَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ عَلَىٰ مَآ أَنتُمۡ عَلَيۡهِ حَتَّىٰ يَمِيزَ ٱلۡخَبِيثَ مِنَ
ٱلطَّيِّبِۗ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُطۡلِعَكُمۡ عَلَى ٱلۡغَيۡبِ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَجۡتَبِي مِن رُّسُلِهِۦ
مَن يَشَآءُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۚ وَإِن تُؤۡمِنُواْ وَتَتَّقُواْ فَلَكُمۡ أَجۡرٌ
عَظِيمٞ ١٧٩

**الله تعالی به مؤمنان په دې حالت(چې ښه او بد سره ګډ وډ دی) هیڅکله پرېنږدی، بلکه غواړی( د بیلابیلو ازمیښتونو له لارې) پاک او سپیڅلی خلک له خبیثو نه جلا کړی. د الله تعالی اصول دا هم نه دی چې تاسو په غیبی چارو خبر کړی، بلکه له خپلو پیغمبرانو نه چې هر یوه ته یې اراده وشی( یوه مناسبه اندازه چې د هغه د رهبرۍ د مقام لپاره لازمی او ضروری وی) د غیب پوهه ورکوی، نو په الله او رسولانو یې ایمان ولرئ، او که د ایمان او پرهیزګارۍ لاره غوره کړئ، لوی اجر او ثواب به درکړی شی.**

وَلَا يَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ يَبۡخَلُونَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦ هُوَ خَيۡرٗا لَّهُمۖ
بَلۡ هُوَ شَرّٞ لَّهُمۡۖ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُواْ بِهِۦ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ وَلِلَّهِ مِيرَٰثُ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ١٨٠

**او هغه کسان چې د الله تعالی په ورکړی شوی فضل(شتمنۍ) کې بخل او کنجوسی کوی، داسې دې نه انګیری چې بخیلی به ورته ګټه ورسوی، بلکه پوه دې شی چې بخل یې ورته سخت ناوړه عواقب لری او د بخل مال به یې د قیامت په ورځ د غاړی طوق شی. د آسمانونو او ځمکې حقیقی وارث او مالک الله تعالی دی او الله تعالی ستاسو په ټولو کړو وړو ډیر ښه خبر دی.**

لَّقَدْ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوْلَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّ ٱللَّهَ فَقِيرٌ وَنَحْنُ أَغْنِيَآءُ
سَنَكْتُبُ مَا قَالُوا۟ وَقَتْلَهُمُ ٱلْأَنۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَنَقُولُ ذُوقُوا۟
عَذَابَ ٱلْحَرِيقِ ١٨١

په یقینی توګه الله تعالی د هغو کسانو( یهودیانو د بې ادبۍ او استهزا نه ډکه)وینا واوریده چې وایی: الله بې وزلی دی او مونږ شتمن یو( الله زمونږ نه پور غواړی). هر څه چې دوی وایی مونږ یې لیکو( او د دوی پلرونو نیکونو) چې په ناحقه یې پیغمبران وژل( هم د هغوی په عملنامو کی ثبت دی او د قیامت په ورځ ) به ورته ووایو چې دادی اوس د دوزخ د سوزوونکی عذاب خوند وڅکۍ.

ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمْ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ ١٨٢

(د دوزخ دا سوزوونکی عذاب) ستاسو د خپلو اعمالو نتیجه ده او الله تعالی هیڅکله په خپلو بندګانو ظلم نه کوی.

ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّ ٱللَّهَ عَهِدَ إِلَيْنَآ أَلَّا نُؤْمِنَ لِرَسُولٍ حَتَّىٰ
يَأْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ تَأْكُلُهُ ٱلنَّارُ ۗ قُلْ قَدْ جَآءَكُمْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِى
بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَبِٱلَّذِى قُلْتُمْ فَلِمَ قَتَلْتُمُوهُمْ إِن كُنتُمْ
صَٰدِقِينَ ١٨٣

دا هغه کسان دی چې وایی: الله زمونږ نه عهد اخستی( او مونږ ته یې لارښوونه کړې) چې یوازې په هغه پیغمبر به ایمان راوړو چې زمونږ د سترګو په وړاندې قربانی وکړی او بیا( غیبی آسمانی) اور دغه قربانی وسوزوی.( ای پیغمبره) ورته ووایه له مانه وړاندې خو تاسو ته ډیر پیغمبران راغلل چې د همدغې معجزې په شمول یې درته زیاتې روښانه نښې راوړې نو که رښتونی یۍ ولی مو هغوی ووژل؟

فَإِن كَذَّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَ رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ جَآءُو بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَٱلزُّبُرِ
وَٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُنِيرِ ١٨٤

( ای پیغمبره) که دغه پلمه جوړوونکی ستا رسالت دروغ وګڼی( څه نوې خبره نه ده او وربانديې مه خفه کیږه) ستا نه وړاندې پیغمبرانو ته هم سره له دې چې څرګندې نښې( معجزې)، صحیفې او له نصیحتونو او لارښوونو ډک روښانه کتابونه ورسره وو، بیا هم د دروغو نسبت شویدی.

كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ ۗ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ
ٱلْقِيَٰمَةِ ۖ فَمَن زُحْزِحَ عَنِ ٱلنَّارِ وَأُدْخِلَ ٱلْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ۗ وَمَا
ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَآ إِلَّا مَتَٰعُ ٱلْغُرُورِ ﴿١٨٥﴾

( د ژوند په پای کې به) هرڅوک د مرګ مزه وڅکی او هر چا ته به د قیامت په ورځ د خپلو خپلو کړو بدله ورکړی شی، څوک چې د دوزخ له اوره وژغورل شی او جنت ته ننوزی په حقیقت کی یې لویه نیکمرغی په برخه شوې، پاتی شو د دنیا ژوند نو دا خو له یوې غولوونکې ګټې نه غیر بل شی نه دی.

۞ لَتُبْلَوُنَّ فِىٓ أَمْوَٰلِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ وَلَتَسْمَعُنَّ
مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ وَمِنَ ٱلَّذِينَ
أَشْرَكُوٓا۟ أَذًى كَثِيرًا ۚ وَإِن تَصْبِرُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ فَإِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ
عَزْمِ ٱلْأُمُورِ ﴿١٨٦﴾

(ای مسلمانانو!) تاسو به خامخا له مالی او ځانی ازمیښتونو سره مخامخ کیږئ او د اهل کتابو او مشرکینو له لاسه به ډیرې نادودې ووینئ او ډیرې زوروونکې خبرې به ترې واورئ خو که د دغو ټولو ازمیښتونو په وړاندې مو د زغم او تقوی درنې تیږې په سینو پورې وتړلې نو دا د همت او اولی العزمئ لوړ صفات دی (چې په خپلولو او مداومت یې الله تعالی امر کړی او له واجباتو شمیرل کیږی).

وَإِذْ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهُۥ لِلنَّاسِ وَلَا
تَكْتُمُونَهُۥ فَنَبَذُوهُ وَرَآءَ ظُهُورِهِمْ وَٱشْتَرَوْا۟ بِهِۦ ثَمَنًا قَلِيلًا ۖ فَبِئْسَ
مَا يَشْتَرُونَ ﴿١٨٧﴾

او کله چې الله تعالی( د پیغمبرانو په وسیله) د اهل کتابو( له علماو) نه دا ټینګ عهد واخست چې د کتاب حقایق او الهی احکام( په تیره بیا د آخرزمان پیغمبر د راتګ بشارت) به خلکو ته رسوی او پټوی به یې نه،خو هغوی کتاب او عهد شاته وغورځول او احکام یې په ناچیزه دنیوی او شخصی ګټو وپلورل ( او تحریف یې کړل) څومره ناوړه راکړه ورکړه ده چې دوی پکی اخته دی.

لَا تَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ يَفۡرَحُونَ بِمَآ أَتَواْ وَّيُحِبُّونَ أَن يُحۡمَدُواْ بِمَا لَمۡ يَفۡعَلُواْ فَلَا تَحۡسَبَنَّهُم بِمَفَازَةٖ مِّنَ ٱلۡعَذَابِۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ١٨٨

ګومان مه کوه، هغه کسان به د الهی عذاب نه په امن شی چې پخپلو (ناروا) اعمالو خوشاله دی( او وربانده ویاړی) او دا لا هم غواړی چې د هغوی(ناوړه اعمال دې)د نیکو اعمالو په حیث حساب او وستایل شی، فکر مه کوه چې هغوی به له عذابه مصؤون وی، بلکه د هغوی لپاره دردناک عذاب ټاکل شوی دی.

وَلِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ١٨٩

او د آسمانونو او ځمکې مالکیت او پادشاهی یوازې د الله تعالی لپاره ځانګړې ده، او الله تعالی په هر کار قادر او برلاسی ذات دی.

إِنَّ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ ١٩٠

بیشکه د آسمانونواو ځمکې په( عجیب او غریب، منظم او مرتب) پیدایش او د شپې او ورځې په پرله پسې تلو راتلو( تاریکی او روښنایی، لنډوالی او اوږدوالی کې د عاقلانو او پوهانو لپاره( د الله تعالی د کامل قدرت د پیژندګلوۍ) روښانه نښې او دلایل موجود دی.

ٱلَّذِينَ يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمٗا وَقُعُودٗا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمۡ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ رَبَّنَا مَا خَلَقۡتَ هَٰذَا بَٰطِلٗا سُبۡحَٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ١٩١

( دا عاقلان او پوهان) هغه کسان دی چې په ناسته، ولاړه او ملاسته( بلکه په هر حال کې) الله یادوی او د آسمانونو او ځمکې په ( حیرانوونکی) پیدایښت کی فکر کوی او( د حال او قال) په ژبه وایی: ای زمونږ ربه! ( د کائناتو دا حیرانوونکې نظام دې بابیزه او بې هدفه نه دی پیدا کړې، تا له پاکی ستا لپاره ځانګړې ده، نو ای ربه! ( مونږ د نیکو اعمالو په توفیق سره) د دوزخ له اوره په خپل امن کې وساته.

رَبَّنَآ إِنَّكَ مَن تُدۡخِلِ ٱلنَّارَ فَقَدۡ أَخۡزَيۡتَهُۥۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ
أَنصَارٖ ١٩٢

**ای زمونږ ربه! تا چې څوک دوزخ ته وغورزاوه، په حقیقت کی دی خوار او سپک کړی دی، ځکه خو یې هیڅ حامی او مرستندوی نشته.**

رَّبَّنَآ إِنَّنَا سَمِعۡنَا مُنَادِيٗا يُنَادِي لِلۡإِيمَٰنِ أَنۡ ءَامِنُواْ بِرَبِّكُمۡ فَـَٔامَنَّاۚ
رَبَّنَا فَٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرۡ عَنَّا سَيِّـَٔاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ
ٱلۡأَبۡرَارِ ١٩٣

**ای زمونږ ربه! مونږ( د توحید) د یوه محترم منادی(محمد صلی الله علیه وسلم) غږ واورید چې د ایمان لوری ته یې خلک رابلل(او ویل یې: ای انسانی پرګنو!) په خپل حقیقی رب مو ایمان راوړی. (مونږ د هغه بلنې ته په اخلاص لبیک ووایه او) ایمان مو راوړ. نو ای زمونږ ربه! زمونږ ګناهونه راته وبښه او بد خویونه او عادتونه راڅخه ورژوه او مرګ مو له نیکانو او صالحینو سره یو ځای او د هغوی په شان کړه.**

رَبَّنَا وَءَاتِنَا مَا وَعَدتَّنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ وَلَا تُخۡزِنَا يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ إِنَّكَ لَا
تُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ ١٩٤

**ای زمونږ پروردګاره! هغه وعده دې راسره پوره کړه چې( زمونږ د دنیا او آخرت د نیکمرغی لپاره دې) د خپلو رسولانو په وسیله راسره کړې او د قیامت د ورځې له رسوایی( او عذاب) نه مو وساته. بیشکه چې ته له خپلې وعدې، تیریدونکی نه یې.**

فَٱسۡتَجَابَ لَهُمۡ رَبُّهُمۡ أَنِّي لَآ أُضِيعُ عَمَلَ عَٰمِلٖ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوۡ
أُنثَىٰۖ بَعۡضُكُم مِّنۢ بَعۡضٖۖ فَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ وَأُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِمۡ
وَأُوذُواْ فِي سَبِيلِي وَقَٰتَلُواْ وَقُتِلُواْ لَأُكَفِّرَنَّ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ
وَلَأُدۡخِلَنَّهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ ثَوَابٗا مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۚ
وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسۡنُ ٱلثَّوَابِ ﴿١٩٥﴾

نو رب يې د دوی دعا قبوله کړه ( او د وعدې په څرګندولو سره يې ورته فرمايل:) زه ستاسو د هيڅ يوه تن عمل کوونکی عمل نه ضايع کوم، نارينه وی که ښځې، تاسو ټول سره همنوع او هم جنس يئ. نو( واورئ): کومو خلکو چې زما په خاطر له خپل هيواده هجرت کړی او له خپل کور کلی نه په زور او ظلم ايستل شوی، او زما په لار کې زورول شوی، بيا جنګيدلی او بالاخره شهيدان شوی دی، ټول ګناهونه يې وربښم او په جنتونو کی به يې هستوګن کړم، داسې جنتونه چې د (ونو) لاندې به يې( د الهی نعمتونو) ويالې روانې وی. دا د الله تعالی سره د هغوی مکافات دی خو له دغو نه نور زيات او غوره اجرونه او ثوابونه هم له الله پاک سره شته.

لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي ٱلۡبِلَٰدِ ﴿١٩٦﴾

( ای مؤمن مخاطبه) په ښارونو کې د کافرانو په ښکته پورته ګرځيدو( تجارتی سفرونو، د هغوی د ظاهری ښکلا او شان او شوکت په وسايلو او د ناز او نعمت په ژوند يې) مه تيروځه، ( او مه ورته د طمعې سترګې نيسه).

مَتَٰعٞ قَلِيلٞ ثُمَّ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۚ وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ﴿١٩٧﴾

دا د فانی دنيا د ژوند لږې او زر تيريدونکې مزې چرچې دی، بيا يې ورتګ دوزخ ته دی چې تر ټولو بد هستوګنځی دی.

لَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ رَبَّهُمۡ لَهُمۡ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ
خَٰلِدِينَ فِيهَا نُزُلٗا مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۗ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ لِّلۡأَبۡرَارِ ١٩٨

خو څوک چې د الله تعالی له ویرې د تقوی او پرهیزګارۍ ژوند تیروی ( او د مادی ژوند په ځلا او پرکا، نه تیروزی) هغه جنتونه به یې په برخه وی چه د( ونو) لاندی یې( د الهی نعمتونو) ویالی روانې دی، دلته د الله تعالی له لوری د دوی لپاره ( د هرکلی لومړۍ )میلمستیا ده خو تر دې ډیر غوره او بهتر(هغه نعمتونه او تسهیلات) دی چې الله تعالی د خپلو نیکو او مؤمنو بندګانو لپاره ساتلی دی.

وَإِنَّ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ لَمَن يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُمۡ وَمَآ
أُنزِلَ إِلَيۡهِمۡ خَٰشِعِينَ لِلَّهِ لَا يَشۡتَرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ثَمَنٗا قَلِيلًاۚ
أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ أَجۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ
ٱلۡحِسَابِ ١٩٩

په اهل کتابو کې داسې کسان هم شته چې په الله تعالی او هغه کتاب ایمان لری چې تاسو ته نازل شوی او په هغو کتابونو هم چې هغوی ته راغلی، د الله تعالی (د احکامو او اوامرو) په وړاندې تابع او فرمان منونکی دی او هم د الله پاک آیتونه له دنیوی او شخصی بې ارښته ګټو څخه، نه قربانوی ،نو د الله تعالی په نزد د دوی اجر او ثواب( محفوظ) دی. بیشکه چې الله پاک د چټک حساب کتاب د سیستم لرونکی ذات دی( او د نیک عملو کسانو مکافات او د مجرمانو مجازات د سترګو په رپ کې اعلانوی).

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱصۡبِرُواْ وَصَابِرُواْ وَرَابِطُواْ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ
لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٢٠٠

ای مؤمنانو!( د مشکلاتو او مصیبتونو په وخت کې) زغم او صبر وکړۍ او ( د دښمنانو سره په جګړه کې) د ثبات او استقامت په وسله ځانونه سمبال کړۍ او ( د خپل اسلامی قلمرو له پولو او سرحدونو) دفاع او مراقبت وکړۍ او د الله تعالی( له قهر او غضب) نه وویریږۍ تر څو مو بریالیتوب او نیکمرغی په برخه شی.

«تمت سورة آل عمران بفضل الله المنان»

===================